# ژړېدلي اوښکه

ناول

Ketabton.com

احمدالله مسلميار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندپانه

احمدالله مسلمیار د صـــــــاحب نور زوی د دادمحمد لمسی په

۱۳۷۷ز کال کې د پکتیا ولایت د سېدکرم ولسوالۍ په کوسین سیمه کې زیږېدلی نوموړی یو ښه او خوش اخلاقه انسان دی

تل ورته د بریا دعا کوم .

سمیع الله اتل

کابل

دلوه ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکه

په ژوند کې د خوشبوو تر ځنګ کړاوونه هم شتون لري چې له ټولو انسانانو سره پېښېږي، خو دا چې زمونږ په ټولنه کې بدو دودونو ځاي نيولی نو زمونږ ټولنه د خوشبوو په نسبت له کړاوونه سره ډېره مخ ده چې له هغو بدو دودونو څخه يي يو هم د وَلور دود دی.

وَلور هغه نوم دی چې د ډېرو خلکو آرمانونه يي له خاورو سره يو کړي دي او زمونږ ځوانان يي مهاجرت ته اړ کړي دي.

زه هم له ډېر وخت نه راپه دې خوا په دې لټه کې وم چې د ټولنې ځيني بد دودونه انځور کړم تر څو په راتلونکي کې د داسې بدو دودونو مخه ونيول شي، ددې دودونو له منځه وړل د ټولنې د پرمختګ سبب کيږي.

زما دا ناول چې د « ژړېدلې اوښکه » تر نامه لاندې دی نو دا مې لومړی ناول دی، په دې ښه باوري يم چې په ياد ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به ستونزې ډېرې وي خو دا مې د بدلون لپاره يوه ښه موقع وه.
هيله لرم چې په لوستلو يې ستومانه نه شئ.

-احمدالله مسلميار
کابل
دلوه ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرمختګ

احمدالله مسلميار مې د لومړي ټولګي نه ملګرى دى  د يو بل
له خوى او خواصو سره ښه بلد يو نوموړى ددې تر څنګ
چې يو ښه ليکوال دى يو ښه شاعر هم دى.

د شعر په برخه کې له نوموړي سره ډېرې خوږې خاطرې
لرم چې د هغو خاطرو څخه يې يوه داسې ده چې کله به زه
او هغه د بازار لور ته تلو نو په لاره کې به يې په موټرونو
ليکل شوي شعرونه په خورا مينه لوستل خو د ليکلو توان يې
نه درلوده خو د وخت په تېرېدو يې ياد ارمان هم پوره شو
چې دا بيت يې د نن سبا د شاعرئ يو مثال دى   :

" د ونې سپوري لاندې ناست يمه خو ونه نشته"
" جامې مې شته خو په جامو کې مې لمنه نشته"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي د ښوونځي له دورې څخه د ادبیاتو له پوهنځي سره مینه درلوده او همدې مینې یې باد پوهنځي ته بربالی کړ .

د « ژړېدلې اوښکه » په ناول کې د ژوند بېلابېلې نیمګړتیاوې انځور شوې دي.

ښاغلي احمدالله مسلميار ته د « ژړېدلې اوښکه » د ناول بشپړېدو مبارکي وايم او تر څنګ يي نوموړي ته د لا برياوو او پرمختګ دعا کوم.

-فضل الله ماموند

-کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

هره شپېه مې غوښتل لـه هغـه سـره واوسـم هغـه سـره ناستې به تل خوښي راکوله

د لومړي ټولګي نه سره ملګري وو خو ملګرتیا مو د اووم ټولګي نه راپدېخوا ډېره کلکه او قوي شوه . دهغه کور زموږ د کور نه څو کوڅې هخوا ؤ او کله به چې ښوونځي ته تله نو لومړی به زموږ کوڅې ته راتله او دواړه بـه یـو ځای ښوونځي ته سره تلو وروسته مو ملګرتیا داسې شوه چې خلکو به ګومان کاوه چې ګواکې دا دواړه سره وروڼه دي. هغه له ما څخه یو کال کشر ؤ او له ډېرې مینې به یې راتـه د مشر کلمه کارولـه هر مازدیګر بـه ګډ د کرکټ مېدان ته د کرکټ لوبې لپاره تلو. فرهاد په کرکټ

کې هم ښه مهارت درلود او ډېر تېز بال به یې کاوه خو زه د کرکټ په لوبې دومره نه پوهېدم که څه هم زما د کرکټ لوبې سره مینه نه وه خو د فرهاد لپاره به تلم هغه بـه چې کلـه زمـا پـه وړاندې بـال کـاوه نو ډېر ورو تـوب بـه یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغورځاوه خو د نورو هلکانو ویکتې به یې داسې غورځولې لکه د بادي توپک ډز چې مرغۍ له ونې راؤغورځوي . د اووم ټولګي مو څو مېاشتې تېرې شوې وې زه او فرهاد د ټولګي په درېمه څوکۍ کې ناست وو اول نمره مو د ټولګي مخې ته د تورې تختې سره ودرېده او غږ یې وکړ

هلکانو راتلوونکې شنبې ورځې ته د ښوونکي ورځ ده څه کوو لمانځو یې او که نه؟

که څوک یې لمانځي نو ګوتې دې پورته کړي.

زما په ګډون ټولو ټولګیوالو ګوتې پورته کړې او هوډ یې وکړ چې د ښوونکي ورځ به لمانځي.

فرهاد چې له ښه جرأت څخه برښمن ؤ ،له څوکۍ نه پاڅېد او څو سپینې پاڼې یې لـه ځان سره واخیستې او د پاڼو نـه یې ورې،ورې ټوټې جوړې کړې او په هره ټوټه کې یې د خوراکي توکو او د کاسو (قابونو) نومونه یـې ولیکل او د لمړي قطار د څوکۍ په مېز یې هغه د کاغذ ټوټې واچولې .

او د اول نمره نه یې پیل وکړ هر نفر به په نوبت ورتلـه او یوه یوه د کاغذ ټوټه به یې پورته کولـه د پنځه نفرو نوبت خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د شپږم نفر نوبت راورسېد چې هغه زه ؤم لاړم د فرهاد ترڅنګ ودرېدم فرهاد هم ددې نه مخکې چې زه د کاغذ ټوټه راواخلم په موسکي حالت يې ووېل ياالله خبر !
ما هم د کاغذ ټوټه راواخيسته چې خلاصه مې کړه په کې ليکل شوي وو " لس خوراکه کباب " ددې جملې په ليدلو مې زړه خواشينی شو لاړم په څوکۍ کې کېناستم او په دې فکر کې ډوب شوم چې د " لس خوراکه کبابو " روپۍ به له کوم ځای نه ترلاسه کوم ؟

زموږ د کورنۍ اقتصادي وضعه هم خرابه ده قرض هم چانه نشم کولی.

فرهاد مې د اوږو نه لاس راتاو کړ ويې بنوروولم راته

ؤ يې وېل

مشره ځنګه په سوچونو کې ډوب يې؟

د فرهاد دې عکس العمل سمدست له خيالي نړۍ نه راوويستمه ځواب مې ورکړ

نه فرهاده کومه خبره نشته ربښتيا تاته څه ووتل ؟

-هاها٠٠٠٠ دروغجنه ! ګورې چې ته په سوچو کې ډوب وې که ډوب نه وی نو ماته به پچه کې وتلي څيز

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه به خبر وي ښه زه خپر درته وبه يې وايم ماته پنځه قابه ووتل د وريجو قابونه.

فرهاد بيا په اوږې لاس راکيښود راته يې وويل

مشره ګوره زړه نه زړه ته لاره ده ستا حالت ماته سم نه ښکاري ځواب راکړه چې د څه لپاره سوچې شوې رښتيا د "کبابو د روپو "په اړه خو به فکر نه کوې؟

په څېره مې د دروغو موسکا راوسته ورته ومې ويل ، نه فرهاده زه همداسې يم کله چې ځانته شم نو په فکرونو کې ډوبيږم.

-ښه مقصد چې د ښوونکي د ورځې په اړه فکر ونه کړې ورور دې درسره دی.

-نه فرهاده داسې کومه خبره نه ده.

شپږم ساعت مو د انګليسي مضمون درلوده او د انګليسي ښوونکې مو د صنف نګرانه هم وه ، د راتلو نه څو شيبې وروسته يې وويل

زده کوونکو د ښوونکي ورځې ته ټول راشئ هسې نه چې مخ مې تور کړئ نورو صنفونو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه مو خلاص کړل د کتاب یوه موضوع مو ولوستله او د رخصتۍ زنګ ووهل شو کتاب مې بکسې ته واچو او د فرهاد سره ګډ د ښوونځي نه د کور په لور روان شوم خو د تېرو ورځو په توپیر له هغه سره په لاره کې روان وم فرهاد زما له اوږو نه لاس راتاو کړ او راته یې ووېل

مشره نن داسې راته ښکاري لکه یو ګونګی مې چې څنګ کې روان وي.

د فرهاد دغو خبرو ته مې لنډ،لنډ ځوابونه ورکړل لږې خبرې مې ورسره پېل کړې هغه د تحفې د جوړولو د دوکان پته رانه وغوښته وېل یې چې چیرته جوړیږي؟

ما هم هغه ته د هغه دوکان پته ورکړه مخې ته مې وکتل زموږ کوڅه راورسېده د فرهاد نه مې مخه واخیسته لاړم کور ته ننوتم خو خیال مې بدل ؤ ټول خیال مې د د کبابو د پیرلو لپاره د روپو پیدا کول ؤ په دهلېز کې مې مور ناسته وه ، خو ما د نورو ورځو په شان خپلې مور ته سلام ډالۍ نه کړ مستقیماً ننوتم حجرې ته ، د ښوونځي جامې مې وویستې.

ویل مې چې لږه دمه به وکړم نو د توشکې په سر مې پښې وغزولې دقیقې نه وې وتې چې مور مې راغږ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسینه زویه ! ډوډۍ ته راووځه ستا د خوښې خواړه مې پاښه کړي دي ،

که څه هم زما لوبیا ډېره خوښېده مور به مې هم زما لپاره ډېر وخت د هغې پخلی کاوه لاسونه مې ومینځل د دسترخوان ترڅنګ کېناستم خو خوراک مې د هغه تیرو ورځو په شان نه ؤ لوبیا رانه ډکه کاسه پاتې شوه مور مې راته وویل یاسینه ولې دې ډوډۍ بس کړه؟

ومې نه غوښتل چې خپل خفګان له خپلې مور سره شریک کړم بهانه مې ورته وکړه

مورې ! کله چې د ښوونځي نه راؤوتو نو ټولګیوال مې راته برګر واخیست موړ یم ځکه.

مور مې د لوبیا کاسه پورته کړه او ویې ویل ښه ځه بېګاه ته به یې وخورې غرمه مې د خوب په بهانه په حجره کې په سوچونو او فکرونو تېره کړه.

ورځ تېره شوه ماښام شو یواځې یو ماښام د ښوونکي د ورځې ترمنځ وخت پاتې وو په انګړ کې د سوپې په سر کېناستم سترګې مې اسمان کې په یوه ستوري لړېدلې نیولې وې.

مور مې راؤوته غږ یې راباندې وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسینه زویه! مئین شوی خو به نه یې؟ څنګه ځان ته ناست یې ؟

په موسکي حالت مې ځواب ورکړ نه موريې همداسې را ؤوتم

مور مې راته ووېل چې ډوډۍ ته بېا کوټې ته راځه هغه ننوته خو زه همداسې ناست ووم فکر ته مې محمد راغی . محمد زمونږ د کوڅې په سر کې د خوراکي توکو پلورنځی درلود ځان سره مې ووېل چې له هغه نه به پور وکړم خوشحاله شوم، وېل مې چې د حل لاره مې پیدا کړه . لاړم کوټې ته ننوتم د ماسختن ډوډۍ هم تیاره وه پلار مې هم د کوټې په کونج کې هماغسې ناروغ پروت وو د فلج ناروغۍ له امله له یو ځای څخه بل ځای ته نشو تللی لاسونه مې پرېمنځل او خوراک مې شروع کړ

د څو خاپونو وروسته د ښوونکي یوه خبره رایاده شوه چې ویلي وو

(د پور د اخیستلو نه مخکې د هغه د بېرته ادا کولو فکر وکړئ)

ډوډۍ مې بس کړه په دې فکر کې شوم که چېرته له محمد نه پور وکړم نو بېرته به یې څنګه ورته رسوم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته شوم لاسونه مې پریمنځل د پلار ترخنګ لکه ګونګ هلک کېناستم مور مې له پخلنځي څخه رانوته کوټې ته، په دسترخوان یې سترګې ولګېدې

کاسه د لوبیا څخه ډکه ورته ښکاره شوه بیا یې ماته مخ راواړوه او راته یې وویل

یاسینه زویه ! د غرمې خو دې برګر خوړلی ؤ او موږ وې نو اوس دې ولې ډوډۍ ونه خوړه ناروغ خو به نه یې؟

-نه مورې !هسې موړغوندې یم ډوډۍ مې زړه ته نه کیږي.

د خوب کوټې ته لاړم ورسۍ مې خلاصه کړه پاس اسمان ته مې وکتل چې سپوږمۍ یوازې خو ستوري ډېله،ډېله ښکارېدل د سپوږمۍ یوازیتوب نورهم خواشینی کړم هغه مې له ځان سره تشبیه کړه د خوب په ځای کې ځملاستم له ډېرو منفي خبرو وروسته مې یوه مثبته خبره ذهن ته راغله هغه داسې وه

افف د لس خوراکه کبابو لپاره دومره خواشینی یې خلک د لکهاوو روپیو پوروړي وي په قصه کې یې نه وي.

دې خبرې مې لږ فکر ارامه کړ خو قسما قسم خبرې مې په ذهن کې تېرېدې وروسته مې د یوه ملګري خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

رایاده شوه چې هغه به د بازار په منځ کې ډېره تکراروله هغه به داسې ډېر ویل

یاسینه ! که ټول بازار په یوه روپۍ شي خو یوه روپۍ درسره نه وي نو څه یې کوې؟

یو ساعت د ښي او چپ اړخ ته اوښتو وروسته ویده شوی وم

ویده وم یودم مې راباندې مورغږ وکړ خو ما ویل که خوب وینم په دویم غږ مې سترګې خلاصې کړې چې ومې کتل مور مې وه په لړزیدلي حالت یې راته وویل

پاڅه یاسینه ! په پلار دې د زړه حمله راغلې ژر شه د ګاونډي دروازه وټکوه او ورته ووایه چې په موټر کې مو تر روغتونه ورسوي سترګې مې ومښلې منډه مې کړل د دروازې په لور، په کوڅه کې د سپېو غوغا وه چې ومې کتل ډله سپي ولاړ دي د ګاونډي دروازې ته مې ورمنډه کړل سپپانو هم راپسې رامنډه کړل د سپپانو په لیدلو مې د خولې نه د ویرې غږ پورته شو یاد غږ دومره لوړ وو چې همغه ګاونډی مو پرې راویښ شو په کوم پسې چې زه له کوره راوتی ووم د باندې راووت په سپېو پسې یې کاڼي ګوزار کړې او وتختېدل او ماته یې وویل څه کوې یاسینه په دې نیمه شپه کې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب مې ورکړ

تاپسې راغلم کاکا پلار مې ناروغ دی مور مې وېل ورشه ورته ووايه چې په موټر کې مو تر روغتونه ورسوي.

ددې خبرې په اورېدلو هغه لاړ د کور دروازه يې خلاصه کړه موټر يې راوويست په ګډه مو پلار موټر ته وخيژوه او روغتون ته لاړو

روغتون کې مو دوه شپې تېرې کړې درېمه شپه مو کور ته راوړه مور مې راته ووېل

لاړ شه ياسينه زويه! په پخلنځي کې مې لوبيا ګرمه کړې هغه وخوره او ويده شه بې خوبه يې ته هم.

-خو مورې پلار جان به مې شپه څنګه تيروي ؟

-هېڅ خبره نشته زويه زه وېښه يم که څه خبره وه راپاڅوم دې

ډوډۍ مې وخوړه د خوب کوټې ته لاړم ځملاستم سهار چې راپاڅېدم لاړم د پلار خواته حالت يې ښه ؤ خو سيرون لا نيمايي پاتې وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار چای مې وڅښنه د ښوونځي جامې مې په تن کړې ، په تمه وم چې فرهاد دروازه وټکوي ، ساعت ته مې وکتل د ښوونځي وخت ته مو لس دقيقې پاتې وې خو فرهاد لا راونه رسېد په فکر کې شوم چې هغه ولې رانغی لا تراوسه؟

وروسه پوی شوم چې رښتیا د ښوونکي ورځ کې مې غېرحاظري وکړه کیدی شي رانه خفه به وي.

بکسه مې شاته واچوله ښوونځي ته روان شوم کله چې ټولګي ته ننوتم ټولګيوالو ته مې سلام ډالی کړ

خو چا مې سلام ته وعلېک ونه ویل په څوکۍ کې چې کله کېناستم نو فرهاد له څوکۍ نه پاڅېد او په توره تخته يې وليکل

(بېغرته کس راغی)

ددې نه وروسته هغه د باندې ووت او تردرېم ساعته پورې رانغی په څلورم ساعت کې مې له ښوونکي نه د اوبو اجازه وغوښته او د ښوونځي انګړ ته ووتم په فرهاد مې سترګې ولګېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تال کې غلی ناست ؤ او ورو ، ورو زنزېده ورغلم تر څنګ يې ودرېدم

ترېِ ومې پوښتل فرهاده ولې خفه يې؟

ځواب يې راکړ

زه نه غواړم چې راتلوونکي کلونه له داسې چا سره تېر کړم چې په ملګرتيا نه پوهېږي

-فرهاده داسې کومه خبره نه ده زما پلار ناروغ وو او دوه شپې د خپل پلار سره په روغتون کې ووم

له تال نه راښکته شو ويې وېل مشره اوس يې حالت څنګه دی؟

- الحمدالله اوس ښه دی

-مشره ما وبښه ما د ټولو ټولګيوالو په مخکې ستا بې عزتي وکړه

-نه فرهاده تاسې هم ملامت نه يئ ځکه چې خبر نه وئ،

دواړه روان شوو ټولګي ته ننوتو هغه د ټولګي مخې ته ودرېد ويې وېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلکانو د یاسین پلار ناروغ ؤ،هغه هم ورسره تللی وه نو ځکه د ښوونکي ورځ کې رانغی، ټولو ملګرو په ډوه غږ راغږ کړ

یاسینه الله دې پلار جان ته شفا عاجله ورکړي ، آمین مې وویل مننه مې ترې وکړه میاشتنۍ تېرې شوې او د پای ازموینې مو راورسېدې د څلورو مضمونونو

ازموینې مې په ښه توګه تېرې شوې غرمه وه چې کورته راغلم ډوډۍ مې وخوړه

له هغه وروسته مې د مهالوېش پاڼه راواخیسته په مهالوېش کې مو پنځمه ازموینه د انګلیسي مضمون وه کتاب مې راواخیست فقط سترګې مې ورته غړولې نور مې لوستی نه شو شپه تېره شوه ازموینې ته ناهیلی روان شوم په داسې حال کې چې فرهاد هم هغه ورځ راسره نه وو ټولګي ته په ننوتو هغه راغږ کړ

سلام یاسینه څنګه یې ؟ درس دې وېلی؟

-هو لږ ، لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا شو ویې وېل دروغجنه ، یو کار وکړه د ازموېنې په صحنه کې زما لور ته ګوره چې نقل درکړم دا ښوونکې خلک ډېر بې پاېلو کوي

- سمه ده فرهاده الله دې پخېر تېر کړي.

ښوونکې راغله کتابونه مو ورته تسلیم کړل ازموېنه یې شروع کړه کله چې د حل وخت راغی نو زه د فرهاد پارچې ته ورنږدې شوم بو دم د ښوونکې سترګې په ما ولږېدې راغله پاڼه یې رانه واخیسته او په سور قلم یې نښاني کړه

د ټولګي نه یې په بدو الفاظو بهر کړم د ښوونځي نه د مرګ په لټه راؤوتم

په مخ مې اوښکې راجاري شوې ما هم خپله تنده پرې ماته کړه

د ښوونځي سره تم نه شوم مستقیماً کور ته لاړم کله چې کور ته ننوتم په انګړ کې مې مور مخې ته راغله ویې وېل یاسینه زویه سترګې دې ولې سرې دي؟

-هسې مورې سترګو کې مې څه شی لوېدلي وو ما هم ومښلې ځکه به سرې شوې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

-ښه نور يې ونه مښې خرابيږي

-سمه ده موريې

لاړم کوټې ته ننوتم په مهالوېش مې سترګې ولږېدې له ډېرې غوصې له امله مې د مهالوېش پاڼه څیري کړه

دروازه وټکېده ورغلم چې ومې کتل فرهاد ؤ لاس نه يې ونيولم او د ونې سيورې ته يې کېنولم ورته ومې وېل فرهاده د ښوونځي کيسې به نه راته کوې

ويې وېل

نه مشره زه هم ځکه راغلم چې تشويش ونکړې انشاءالله چې مرسته کوي

-سمه ده فرهاده تشويش نه کوم

-ښه مشره زه هم ځم چې پلار مې غوصه کيږي ناوخته دی

-مخې ته دې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرهاد خبرو لړ،لړ وړتیا راوبښلله راتلوونکو ازموېنو ته مې په خورا مینه درس ولوسته ازموېنې ښې تېرې شوې پوازې د انګلیسي ازموېنې ته خواشینی ووم

ورځې تېرېدې هوا هم ورځ تر بلې په یخېدو وه د مور ترخنګ ناست ووم د ماسختن ډوډی مو خوړله پلار مې له مور څخه وپوښتل اسمان ورېځ دی که شین؟

مور مې ځواب ورکړ اسمان ورېځ دی کېدی شي واوره ؤاوري

شپه تېره شوه سهار مې مور راباندې غږ وکړ

یاسینه زویه پاڅېږه دومره واوره شوې چې مه کوه پوښتنه

لاړ شه هغه ګاونډي ته ووایه چې زموږ له بامه هم واوره پاکه کړي

له ځابه پاڅېدم لمړی ورسی ته لاړم انګړ مې وکوت چې ټول په سپینه جامه پوښلی ؤ د ژمي جامې مې په تن کړې د باندې د وتو هوډ مې وکړ د وتلو نه مخکې دروازه وټکېده چې ومې کتل فرهاد ؤ د واورې په ورېدو خوښ ښکارېده ترې ومې پوښتل څه کوې دومره وختي او په دې سړه هوا کې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړی یې د واورې په غونډارې وویشتلم بیا یې ځواب راکړ

راغلم تر څو واوره ویشتل وکړو

-عجیبه هلک یې دې یخ ته ګوره هاهاها......

-نه مشره ټوکه مې وکړه راغلم چې لاړ شو ښوونځي ته د ازموینو نتایج مو اعلانیږي

دې خبرې مې د واورې خوښي رالنډه کړه ښوونځي ته لاړو ښوونکي مو راغله د پارچو د ویش لپاره

غږ یې وکړ

فرهاد اول نمره زده کوونکو لاسونه ورته وټکوئ

څو هلکانو ته خپلې پارچې ورسېدې خو زما نوم لا نه وه رارسیدلی څو شیبې وروسته ښوونکي غږ وکړ

یاسین

ما ګوته پورته کړه ویې ویل په ژمي کې د انګلیسي کورس کې ځان شامل کړه دا واخله مشروط یې ......

پاته مې په ناهیلۍ ترې راواخیسته فرهاد مې خواته راغی مشره خفه کیږه مه مشروط یې ناکام خو نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

-خو فرهاده د مشروطۍ ازموېنه کې به څه کوم؟

-اسانه ده دا ښوونکي ماته معلوم دي

-هغه څنګه ؟

-نور نو پوښتني ته اړتیا نشته ته تشویش مه کوه

لاړم کور ته مور مې په لاس کې د پایلو پاڼه ولیده ویې پوښتل دا د څه پاڼه ده ؟

-مورې دا اطلاعنامه ده د ښوونځي د نتیایجو پاڼه

-ښه څووم شوې زوېه؟

که څه هم مور مې سواد نه درلود نو ما هم دروغ ورته ووېل

مورې څلورمه شمېره بریالی شوم

په تنده یې ښکل کړم ویې وېل

افرین بچېه! ته دې د مور وېاړ یې....

ورځې تېرې شوې فرهاد مې د دوکان مخې ته ولید ترې ومې پوښتل فرهاده زما د مشروطۍ ازموېنه سبا ده څه وکړم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې دا ټولګی به ښا له سره وایم که ځنګه؟

-نه مشره زه له ښوونکې سره غږېدلی یم سبا فقط ځان حاظر کړه نور برېالی یې.

شپه تېره شوه سهار ښوونځي ته لاړم ښوونکې مې نوم د بریالیو لست کې شامل کړ او په دې توګه مې اووم ټولګی پای ته ورسېد٠

کال تېر شو د نهم ټولګي پېلېدو ته په تمه وم ژمی وو هوا هم ډېره سړه وه مور مې بخارۍ ته لرګي راوړل بخارۍ کې یې اور بل کړ راغله زما ترڅنګ کېناسته او راته ویې ویل

یاسینه زوېه په کور کې ېوازې پنځه زره افغانۍ پاتې دي او سبا دې پلار هم ډاکتر ته بېاېو هغه هم کېدی شي هلته مصرف شي نو که تا هم کوم کار ځان ته پیدا وی نو ډېره به ښه وه

ورته ومې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

موريې نو زه به کوم کار ترسره کړم ماته خو کوم کار زده هم نه دی؟

مور مې لاړه له دهلېز نه يې له ځان سره د بوټانو بورس او رنګ راوړل او ماته يې ووېل

زوېه! ماته ځير شه چې زه ستا بوټان څنګه رنګوم

خبرې مې ورپرې کړه

موريې بوټان خو رنګولی شم

-نو بيا مه وابه چې زما کوم کار نه دی زده

-ښه سمده موريې زه ځم سر له نن نه دا کار شروع کوم

-کېنه زوېه سر له سبا به دا کار شروع کړې

ورځ تېره شوه ماسختن مې د بوټانو د رنګ توکي په خالته کې واچول او په مېخ کې مې راځوړند کړل

سهار چې له خوبه راپاڅېدم لاړم اودس مې وکړ لمونځ مې وکړ مور مې چای راواخيست چای مو وڅکه د ګاونډي په موټر کې روغتون ته لاړو پلار او مور مې روغتون ته ننوتل زه د بازار په لور روان شوم هلته په ګرځېدلو ستړی شوم لاړم د يو دوکان ترڅنګ مې ډډه ووهله په دوکان کې په لوړ غږ دغه سندره چالانه وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریبي ده ، غریبي ده

له غم ډکه زنده ګي ده ........

دې سندرې مې په مخ مړې ، مړې اوښکې راروانې کړې

له سترګو مې اوښکې جاري وې ناڅاپه مې پو سړی ځنګ ته راغی بوټان یې له پښو راوباسل او ماته یې راکړل ویې ویل

ګله دا بوټان رنګ کړه، بوټان مې راواخیستل بوټان تک تور رنګ شوي وو پاک ستره وو ورته ومې ویل

کاکا بوټان خو دې رنګ دي نو بیا یې ولې رنګوې ؟

سړي ټینګار وکړ چې ته زما بوټان رنګ کړه بیا یې درته وایم

بوټان مې رنګ کړل سړي هم په پښو کړل له جیبه یې لس افغانۍ راوویستې ماته یې راکړې

ویې ویل

که چېرته مې پیسې بې له دې چې ته مې بوټان رنګ کړې درکړې وی نو ته به بیا په مفته پیسو اموخته شوی وی او کېدی شي چې سوال ته دې مخه کړې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه مې دا کار ؤ نه کړ الله پامان

سړی روان شو زما دعاګانې ورپسې شوې لس ګون مې په جېب کې واچو او د هغه خبرې مې زړه ته وسپارلې پاڅېدم د سړک په غاړه روان شوم پودم پو دوکاندار راباندې غږ کړ

هلکه راشه دا بوټان خو مې رنګ کړه لاړم بوټان مې ورته رنګ کړل پیسې یې راکړې روان شوم د لمر سترګه ورو، ورو غرونو پټوله کېناستم له جېب نه مې روپۍ راؤویستې ومې شمېرلې پو نیم سل روپۍ وې د پلار لپاره مې په لږو روپو منې راواخیستې کور ته روان شوم کور ته په ننوتو مې مور ته سلام ډالۍ کړ خو ځواب یې رانکړ بیا مې ووېل

سلام مورې

ویې وېل

وعلیکم زوېه لاړ شه دې بلې کوټې کې مې بخارۍ کې اور اچولی

-ولې هغې کوټه کې مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

-زوېه هلته دې پلار ويده دی ما وېل زموږ په خبرو راويښ نه شي

لاړم د بخارۍ ترخنګ مې ځان ګرم کړ مور مې هم راغله راسره کېناسته خو د مور ژبه مې د نورو ورځو په توپير ګونګه ښکارېده سترګې يې هم د انار د اوبو په شان سرې وې  ترې ومې پوښتل ولې خواشيني يې مورې څه خبره ده ؟

-زوېه سترې يم خواشيني نه يم

-ښه مورې ډاکترانو څه وېل پلار مې اوس ښه دی؟

مور مې په دې ځواب کې ځنډ وکړ

بيا مې ورته ووېل مورې ډاکترانو څه وېل؟

- وېل يې چې اوس ښه دی

- مورې هغه منې مې پلار جان ته راوړې دي چې راپاڅېد ور يې کړه چې ويې خوري

مور مې ترخنګ ناسته وه خو ما وېل که له ځان سره غږېږم پاڅېدم بلې کوټې ته روان شوم چې د پلار حالت مې وګورم مور مې راغږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته ځې زوېه؟

- ځم پلارجان مې ګورم

-زوېه هغه اوس ویده شو

بېرته کېناستم څو شېبې وروسته دروازه وټکېده روان شوم چې دروازه خلاصه کړم

مور مې راغږ کړ

زوېه زه يې خلاصوم

په شک کې ولوېدم چې نن ولې هر څه بدل ښکاري مور مې راته ووېل

ته راونوځې د ګاونډ ښځې راغلې

-نو مورې هغه په دې شپه کې څه کوي ؟

مور مې زما پوښتنه بې ځوابه پرېښوده ووتله دروازه يې خلاصه کړه د ګاونډ د ښځو په را ننوتو په انګړ کې وير شروع شو منډه مې کړل د پلار خنګ ته لاړم د پلار د مخ نه مې څادر پورته کړ چې ومې کتل زنه يې په سپينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوټه ترل شوې ده مور ته مې ورمنډه کړل په لوړ غږ مې وویل

موری دا هر څه دروغ دي مورې ، مورې ،مورې.......

مور مې په انګړ کې غورځېدلې پرته وه د ګاونډ ښځو یې په سر لمده ټوټه هخوا دېخوا کوله د کلي خلک راغلل خو زما په لېدو به یې په ژړا شروع وکړه شپه مې په ژړا تېره کړه جامې مې په اوښکو داسې لتې پتې وې لکه باران چې لمدې کړې وي شاوخوا یوه بجه وه د حجرې نه یو سپین ګیري سړي غږ وکړ

چې مړی راباسو د جنازې وخت دی خو ما کټ داسې کلک نیولی ؤ لکه ماشوم چې د خپلې مور لمنه په کوچنیوالي کې نیولې وي

کوټې ته څو تنه راننوتل د کټ ترخنګ راغلل د پورته کولو نه مخکې یې زه له کوټې نه وویستم بېرته مې کوټې ته منډه کړل

کوټه کې مې ېوازې د پلار څادر تر سترګو شو انګړ ته ووتم ښځې په ژړا سر وې له کوره ووتم د جومات په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور مې منډه کړه تر پلارجان پورې ورسېدم د پلار لـه مخ نه مې کڅوړه لرې کړه

پلارجان،پلارجان نارې مې پرې وکړې خو غږ يې نه راته کاوه

ملا د جنازې لمونځ ورکړ خلکو مې پلارجان راواخيست او امبولانس موټر ته يې وخېژوه

زه يې هم ترخنګ کېناستم په لاره کې مې فقط مړې،مړې اوښکې د پلارجان په مخ توېولې هديره راورسېده خلکو مې پلارجان واخيست د کيندل شوي قبر خواته يې وېوړ.

زه هم ورښکته شوم خو خلکو د قبر خواته نه پرېښودلم هر څا مې مخه نيوله ېوازې مې ژړا له وسه پوره وه پلارجان يې په قبر کې ښکته کړ خلکو يې په سر خاورې ورواړولې ملا دعا وکړه خلک روان شول خو زه تر ماښامه د پلار جان د قبر ترخنګ ناست ووم دا نارې مې وهلې پلاره ته نه يې مړ دا هر څه دروغ دي پلاره! پلاره! پلاررر......

ماښام کور ته راغلم په کوټه کې د ګاونډ ښځې ناستې وې او زما مور ته يې د ډاډ خبرې کولې زه هم د کور بلې کوټې ته ننوتم د هندارې مخ ته ودريدم سترګې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرې ژړا له امله د د انګار په شان ښکارېدې له ځان سره په خبرو بوښت شوم خبرې مې د ژړا د پيل سره بندې شوې د ژړا غږ ښځو واورېد ، ور خلاص شو ومې کتل ترور مې وه راغله په ټکرې يې زما اوښکې وچې کړې او د مخکې وختونو کيسې يې راته شروع کړې خو زه همغسې په سلګو سر ووم ژړا مې نه ودرېده

ترور مې هم پودم زما په ليدو ژړا شروع کړه د ترور ليدلو مې د ژړا غږ نور هم لوړ کړ د بلې کوټې نه د ګاونډ ښځې راغلې او زموږ د ژړا د ختمولو هڅې يې کولې خو موږ دواړو همغسې په ژړا سر وو شيبې وروسته په کوټه داسې وير شروع شو چې د هر چا له سترګو به د اوښکو څپې راروانې وې يودم کوټې ته پوه ښځه راننوته غږ يې کړ

ژر راشئ د ياسين مور بې هوښه شوه د ښځو نه مخکې مې منډه کړل په مور مې سترګې ولږېدې غږونه مې پرې کول خو ځواب يې نه راکوه

ماما مې راغی زما مور يې موټر ته پورته کړه روغتون ته يې بوتوه زه هم موټر ته پورته شوم خو ماما مې له موټر څخه راښکته کړم هغوئ لاړل روغتون ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دروازې مخې ته ناست ووم ژړل مې يودم مې چا پـه سر لاس راکيښود پورتـه مـې وکتـل فرهـاد وو غـاړه يـې راکړه راته ويې ويل

مشره زه يم درسره ژاړه مه دا ژوند دی

خو د فرهاد خبرو راباندې هيڅ اثر ونـه کـړ هغـه هم راسره ژړا شروع کړه

د فرهاد پلار مې څنګ ته راغـی ښـکل يـې کـړم ډاډ يـې راکړ فرهاد ته يې ووېل

زويه ته له ياسين سره نن شپه همدلته پـاتې شـه هغـه لاړ او فرهاد مې په څنګ کې ناست وو کور ته ننوتو فرهاد کيسې راواخيستې لږ ، لږ مې فکر ورسره بدل شو

شپه اخري برخې ته رسيدلې وه زه او فرهـاد همداسـې ويښ ناست وو د موټر غږ مې غوږو ته راغی

د باندې ووتم ومې کتـل مامـا مـې وو د مـور پوښـتنه مـې ترې وکړه ځواب يې رانکړ په بيړه کور ته ننوته

زه هم ورپسې ورننـوتم بيـا مـې تـرې وپوښـتل مـور مـې څنګه ده؟

-ښـه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماما مې ډېر مصروف ښکارېد په موبایل کې یې اړیکې نیولې خو له مانه لرې ولاړ وو غږ یې نه راته څو شیبې وروسته موټر ته پورته شو ما هم ورمنډه کړه

غوښتل مې چې روغتون ته ورسره لاړ شم خو ویې ویل چې مه ځه لږ وروسته موږ بیرته راځو مور دې هم راولم کور ته ننوتم له فرهاد سره کیناستم فرهاد وپوښتل

څه یې ویل مور دې څنګه وه ؟

- ماما مې وېل چې اوس ښه ده شکر

د سهار اذان وشو د لمانځه نه وروسته د کلي سپین ږیري د ملا سره ګډ راغلل ما هم د حجرې ور

ورته خلاص کړ د ناستې وروسته یې د جنازې خبرې شروع کړه چا وېل لس بجې ښه وخت دی

چا وېل د غرمې لمانځه نه وروسته به یې جنازه وکړو خو زه نه پوهېدم چې څوک یادوي ؟ څوک مړه شوي؟ د چا جنازه کوي؟

له ملا صاحب نه مې پوښتنه وکړه ملا صاحب څوک مړه شوي ؟

خبره یې راپرې کړه

ویې وېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورشه یاسینه ګیلاس کې اوبه راوړه درملو پسې یې څکم

لاړم اوبه مې راوړې

خو د ملا صاحب له جیب څخه ګولۍ نه راوتلې اوبه همالته ایښې وې زړه مې طاقت نه کولو له بل سپین ږیري مې پوښتنه وکړه

کاکا تاسې د چا د جنازې په اړه غږیدلئ؟

-ځوانه د جومات نه هغه غاړې ته په پو کور کې مړی شوی د هغه په اړه غږیدو.

په فکر کې مې خبره راپیدا شوه چې دوئ نو بیا دلته څنګه راغلل خو د هغه مړي کور ته به ورغلي وو کنه،

له څه څنډ وروسته مې تشویش له منځه لاړ ومې ویل کیدی شي د غمشریکي لپاره نن هم راغلي وي د لمر سترګه رابنکاره شوه خو بو ځل بیا یې له ځان سره

د زیري پر ځای خواشینوونکی خبر راوړ موټر ودرېد د موټر د ودرېدو سره سم په کور کې یو ځل بیا د ویر غږ پورته شو

له حجرې نه ووتم په ترور مې سترګې ولږیدې دیوال ته یې ډډه لګولې وه په مخ یې د اوښکو څپې راروانې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترې ومې پوښتل تروريې ولې ژاړې په مور خو بـه مې څه نه وي شوي؟

-نه ياسينه زويه پرون نه هغه بل پرون دا وخت چې زه راغلې ووم ستا پلار ژوندی ؤ نو ځکه راته ژړا راغله

د ترور خبرو او د هغې ژړا په ما هم بده اغېزه وکړه په ځمکه ولوېدم په ځان نـه ووم سترګې مـې خلاصـې کړې پـه روغتون کـې ووم چـې ومـې کتل تـرور مـې سر تـه ولاړه ده ترې ومې پوښتل مور مې چيرته ده ؟

- زويـه هغـه لږ ناروغـه وه نـو دا درې شپې زه دلتـه درسره وم

-ښه د مور حالت خو به مې ښه وو اوس ؟

-هو اوس ښه ده انديښنه مه کوه

ماما مې راغی له روغتون نه د کور په لور روان شوو کلـه چې کور تـه ننوتو نو پـه کور کـې د ګاونډ او د خپلوانو ښځې ښکارېدې خو په مورجانې مې سترګې نـه لږېدې

انديښنه کـې شوم چـې دا مور مـې چيرتـه ده بيا مـې وپوښتل تروري مور مې چيرتـه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

-هغه دې ماما کلي ته بوتوه وپل يې چې لږ به يې فکر بدل شي

ددې خبرې په اوريدو مې زړه خواشينی شو ومې غوښتل د پلار ته لاړ شم د هديرې په لور روان شوم په لاره روان ووم او مړې ، مړې اوښکې مې له سترګو توېولې

دې خبرې زورولم چې زه مې مور يوازې پرېښودم او هغه کلي ته لاړه په سوچو او فکرونه کې ووم په لاره باندې هيڅ پوی نشوم چې مخ ته مې وکتل هديرې ته لږ لار پاتې وه هديرې ته ورسېدم د پلار د قبر ترڅنګ کېناستم داسې غږونه مې پرې وکړل پلارجانه تانه هم يوازې پرېښودم مور مې هم رانه کلي ته لاړه

اوس به مې زه د پلار او مور مينه په چا ماتوم ؟

بار ،بار مې دا خبره تکراروله خو دويم غږ مې غوږو ته نه راتله يوازې له ما سره ژړا مله وه سر مې پورته کړ بنې اړخ ته مې وکتل سترګې مې په نوي قبر باندې ولږېدې پاڅېدم د نوي جوړ شوي قبر خواته ورغلم چې ومې کتل

د قبر په يوې خوا د کاشۍ په ډبرې ليکل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(فلانۍ د فلاني لور د فلاني ميرمن او د ياسين مور چې د ياد کال په ياده نيټه په حق ورسيده انـاالله وانااليـه راجعون)

د ليک د لوستلو وروسته مې په هديره کې دا نارې شروع کړې

مورې ! پلاره ! زه مو چاته پريښودم؟

مورې ! پلاره ! زه مو چاته پريښودم؟

پاڅيدم د مور او پلار د قبرونو په منځ کې کيناستم يو ځل مې د مور او بل ځل مې د پلار نامه په ژړيدلي حالت اخيسته خو د مور او پلار له قبرونو کوم غږ نه راوته

هغه مور چې زه به يې لږ خفګان ته هم نه پرېښودلم په هغه ورځ يې ماته هيڅ د داړ خبره ونکړه سر مې ښکته کړ يو ځل مې د مور د قبر خاوره ښکل کړه او بيا مې د پلار او په ژړيدلي حالت مې کور ته حرکت وکړ د ځو قدمونه اخيستلو وروسته به ودرېدم او يو ځل به مې شاته وکتل او سلګۍ به مې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام اذانونه کېدل چې کورته ورسېدم د پلار کوټې ته ننوتم په هغه کوټه کې یوازې د مور او پلار

یادونه ښکارېدل خو په خپله نه ول هغه ځای چې تل به مې له مور سره په خبرو کولو په کې بوخت ووم په هغه ورځ مې په هغه ځای کې د خبرو په ځای ژړا کوله ساعت تېر شو کوټې ته مې ترور راننوته په لاسو کې یې دسترخوان او د خواړو کاسه وه دسترخوان یې زما مخې ته ښور کړ راغله ترڅنګ مې کېناسته خبرې یې داسې پېل کړې

ډوډۍ وخوره یاسینه زویه!

خفه کېږه مه سر له سبا به له ما سره ژوند کوې زه دې هم د مور په شان یم شپه تېره شوه سهار شو د کور سامانونه مو راټول کړل ماما مې یو مازدا ډوله موټر رادربس کړ د کور سامانونه یې ورپورته کړل کله چې د کور سامانونه خلاص شول نو د مور کوټې ته ننوتم کوټې کې راته د مور او پلار خبرې رایادې شوې د ماما غږ مې غوږو ته راغی وېل یې

چې یاسینه راځه چې ځو سامان خلاص شو دروازه بندوم ، د کوټې نه په ژړا ووتم له دهلېز نه مې یو ځل خپلې د خوب کوټې ته سر ورښکاره کړ راؤوتم د کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه مې بنده کړه کیلي مې د کور خاوند ته ورکړه له ګاونډیانو مې مخه ښه واخیسته لاړو د ترور کور ته ورسېدو که څه هم ترور مې په هغه ښوونځي کې چې زه ووم ښوونکې وه خو بیا هم له اقتصادي ستونزو سره مخ ول او یو غریبانه کور یې په کرایه نیولی ؤ سامان مو ښکته کړ ترور مې یوه کوټه زما لپاره فرش کړه راته یې ووېل

یاسینه! دې کوټې کې نور خپل درس وایه او خوب کوه شپه راغله ډوډۍ مې وخوړه لاړم هغه کوټې ته چې ترور مې راته ویلي وو چې دلته نور درس وایه او خوب کوه خو کله چې ننوتم د درس او خوب په ځای مې په هغه ځای کې ژړا شروع کړه تر سهاره مې خوب ونه کړ د مور او پلار یاد دردولم او په ژړا سر ووم شپه تېره شوه سهار مې ترور رانه وپوښتل

خوب دې وکړ یاسینه؟ ساړه خو به دې نه وي شوي ؟

-هو خوب مې وکړ نه ساړه مې نه دي شوي

د ژمي شپه ورځې وې تیرېدې خو له غمونو ډکې ورځې وې د پلار د وفات مې جمعه او د مور د وفات مې اته ورځې تېرې شوې د ترور مېړه مې ماښام له ځان سره ښه ډېره سودا راوړه له ترور نه مې وپوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دومره سودا د څه لپاره ؟

-یاسینه سبا یو کوچنی ختم کوم ستا پلار او مور پسې

د ترور په دې کار مې ځان یوازې احساس نه کړ خوښ شوم سهار وختي د ګاونډ ښځې کور ته راغلې او له ترور سره مې په پخلنځي کې بوختي شوې لږ وروسته مې ماما هم راغی راغږ یې کړ

یاسینه! د کوټې ور خلاص کړه او ښځو ته ووایه چې انګړ ته راونوځي قاري صاحبان راغلل

لاړم د کوټې ور مې خلاص کړ ترور ته مې غږ ور وکړ خو له غږ وروسته مې ځنګ ته د ترور په ځای یوه جینۍ راغله چې ډېره ښکلې وه د تاثیر لاندې راغلم په لړزیدلي حالت مې ورته ووېل

د باندې راونوځۍ قاري صاحبان راغلل لاړم د باندې قاري صاحبانو ته مې ښه راغلاست ووایه ننوتل کوټې ته سیپارې یې په هر نفر وویشلې ما هم یوه سیپاره راواخیسته تلاوت مې شروع کړ سیپاره مې نیمایي ته

لا نه وه رسولې د کوټې ور وټکېده ماما مې غږ کړ

ورشه یاسینه!

له کوټې ووتم چې ومې کتل ترور مې وه راته یې ووېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسینه ډوډۍ خو تېاره ده څه وکړو راوړو یې؟

-نه لا تراوسه د ځینو سیپارې نیمایي پاتې دي

-ښه چې کله مو ډوډۍ ورله ته دلته ودرېږه تر دې ځایه یې فاطمه راوړي سمه ده؟

-سمه ده ترورې

ترور مې لاړه خو زه څو شېبې هلته ودرېدم په فکر کې ډوب شوم دا فاطمه څوک ده ؟

دا نوم مې نوی واورېد زموږ په خپلوانو کې د فاطمې په نامه څوک نه وه لاړم کوټې ته ننوتم سیپاره مې راواخیسته تلاوت مې شروع کړ څو شیبې وروسته ملا صاحب غږ وکړ یاسینه څومره پاتې ده ؟

-درې رکوع مولوي صاحب

-ښه دلته یې راوړه چې زه یې ولولم ته لاړ شه لږه مالګه او بوره د دم کولو لپاره راوړه

ددې خبرې وروسته مې ماما ته ور وکتل غوصه ښکارېده پوی شوم چې ماته غوصه دی چې ولې مې لاتراوسه مالګه او بوره د دم لپاره نه دي راوړي ووتم ترور ته مې ورغږ کړ

ترور مې راغله ویې پوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيپارۍ خلاصي شوې؟ ډوډۍ راوړو؟

-نه مالګه راکړه د دم کولو لپاره

-وای رښتیا هغه خو زما له یاده وتلې وه

لاړه د مالګې ،بورې او لـه چاکلیټو ډک قاب یې راوړ را یـې کـړ او ورتـه ومـې وېل تـرورې ډوډۍ هم نـوره چمتو کړئ او زه به دلته ولاړ یم تر دې ځایه یې راوړئ

- ښه سمه ده

لاړم کوټې تـه ننوتم قاب مـې د مـلا صـاحب مخـې تـه کېښـود څـو شيبې وروسته يـې ختمانـه شـروع کـړه لـه ختمـاني وروستـه مـې قـاب پـه ټولـو وګرځـاوه مامـا مـې راغږ کړ

ورشـه یاسینه د سترخوان شیان راوړه زه دلتـه یم لاړم غږ مې وکړ ترورې ډوډۍ را اخلئ

لـه غږ وروستـه مـې بیـا ترڅنـګ همغـه مخکینـۍ جینـۍ راغله او دسترخوان يـې راتـه راکړ مـا مـې هم مامـا تـه ورکړ او په کوټه کې یې ښور کړ وروسته مې د هغې له لاسو نه نور قابونه راواخیستل خو په وروستي ځل مـې چې کله ترې پطنوس اخیسته پطنوس مې له لاسـه ولوېد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خوارہ په ځمکه تيت او پرک شول هغې هم راته د ملنډې په شکل ووېل

کوچنی خو نه يې غټ سړی يې!!!!!!

هغه لاړه او نور قابونه يې له خوړو ډک کړل نور توکي خلاص شول زه هم لاړم د ماما ترڅنګ مې کېناستم خوراک مې شروع کړ په کوټه کې ناستو کسانو په خپلو منځو کې خبرې اترې کولې او زه له دې خبرې سره

سر وم

کوچنی خو نه يې غټ سړی يې....

ټولو ډوډۍ وخوړه دعا مو وکړه ماما مې قاري صاحبان تر دروازې بدرګه کړل او راننوت زما ترڅنګ کېناست ټوکې يې راسره شروع کړې

ياسينه ډېر شرم دی د جينۍ مخکې درنه پطنوس ولوېد

اوس به په تا فاطمې بنې کيسې شروع کړې وي

ماما مې د فکر بدلولو لپاره داسې کيسې کولې خو زه په خپلې خيالي نړۍ کې ډوب ووم

ټوله ورځ مې د فاطمې له نامې سره تېره کړه شپه مې هم په همدې ډول وه خوب کې هم له هغې سره په چکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللی ووم خو کله چې له خوبه راپاڅېدم چار چاپېره مې تش دېوالونه تر سترګو کېدل

د سهار چای مې څکلو چې موبایل ته مې زنګ راغی ومې کاته فرهاد وو او رانه یې وغوښتل چې د باندې ورشم چای مې وڅکه لاړم د کوڅې سر کې فرهاد ولاړ وو ورغلم روغبړ مو سره وکړ فرهاد راته ووېل

څه چې ځو

ترې ومې پوښتل چېرته ځو؟

-ځو د بازار لور ته

روان شوو په لاره کې فرهاد راپاده کړه

یاسینه دې نږدې ورځو کې ښوونځی هم پیلیږي د ښوونځي لپاره دې جامې اخیستې ؟

- نه لاتراوسه مې نه دي اخیستې خو اخلم یې

-ښه یاسینه! ما هم نه دي اخیستې دواړه به یې واخلو

په خبرو خبرو بازار ته ورسېدو فرهاد یو دوکان ته ننوته چې له قسما قسمه پطلونونو او یخنقاقونو ډک وو زه هم ورننوتم یو پطلون ته یې لاس ونیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې پوښتل

ياسينه هغه ښه نه دی؟

- نه پوهيږم خپل زوق ته دې ګوره

- څه بو ځان ته خو يې نه اخلم دوه دانې اخلم بو ستا لپاره بو د ځان لپاره

- نه زه يې بله ورځ اخلم

فرهاد رنګارنګ پطلونونه راواخيستل ماته يې بو راکړ ويې وېل

ياسينه دا ماته ښه ښکاري

- هو

هغه په دوکاندارغږ وکړ کاکا دې رنګ کې دوه دانې راواخله

سودا مو واخيسته له دوکان نه راؤوتلو په بازار کې مو د ښوونځي نور توکي هم واخيستل فرهاد ووېل

راځه ياسينه څه وخورو زه خو وږی شوم

بو هوټل ته ننوتو خوراک مو وکړ فرهاد هم داسې پيسې مصرفولې لکه په هوټل کې چې په نڅاګر څوک روپۍ شيندي خو زما يې دا عادت خوښ نه وو د بازار نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور په لور روان شوو تقریباً دوه بجې کور ته ورسیدم ننوتم د ترور کوټې ته چې ومې کتل د ترور ترڅنګ مې یوه جینۍ ناسته ده چې په لاس کې یې قلم او مخې ته یې کتابچه پرته ده بېرته ووتم ترور مې راپسې غږ وکړ یاسینه! خپلې کوټې ته لاړ شه زه هم درځم ترور مې راغله زما په لاس کې یې خالته ولیده پوښتنه یې وکړه

دا خالته کې څه دي؟

- د ښوونځي جامې دي ملګري مې راته واخیستې

- ښه الله دې خوشحاله کړي ته صبر زه درته ډوډۍ راوړم

- نه ترور ډوډۍ مو په بازار کې وخوړه

-ښه ته دې لمونځ وکړه او ویده شه زه فاطمې ته لږ درس ښایم

-سمه ده

د ترور د تلو وروسته مې بیا په فکر کې د فاطمې نامې ځای ونیو پاڅېدم لمونځ مې وکړ د لمانځه وروسته مې د ترور او د فاطمې خبرې تر غوږ شوې د ورسۍ خواته لاړم پرده مې لږ کش کړه او پټ ، پټ مې د انګړ لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کتل څو شیبې وروسته مې فاطمه د سترګو ښکار شوه د فاطمې په لیدو مې په زړه کې د مینې څرېکه وشوه

فکر کې مې دې خبرې ځای ونیو

یاسینه لکه چې دې جینۍ دې زړه پټ کړ

له څو شیبو وروسته مې ووېل

نه یاسینه پام دومره ژر به په چا زړه نه باېلې

ورځ تېره شو د لمر سترګه هم دنګو غرونو پټه کړه په اسمان کې د ستورو ځلا راښکاره شوه

له ډوډۍ خوړلو وروسته خپلې د خوب کوټې ته لاړم د خوب په ځای کې څملاستم او د فاطمې له یادونو سره په خبرو بوخت شوم د سبا لیدلو لپاره راباندې شپه دومره اوږده شوه چې فکر مې کاوه ما وېل کې نن د یلدا شپه ده

په ځای کې ښې او چپ اړخ ته اوښتم خو خوب نه راتله وروسته له ډېرو سوچونو په ځان نه ووم پوی ویده شوی وم له خوبه چې کله راپاڅېدم نو خوښ ښکارېدم هغه ځکه چې نور د فاطمې لیدلو ته بوازې څو ساعته وخت پاتې وو سهار چای مې وڅکه د باندې وتلو هوډ مې وکړ له وتلو نه مخکې مې ترور راباندې غږ وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسینه راشه او دا قابونه د فاطمې دوئ کره وېسه د ختم په ورځ مې راوړي وو

ورغلم قابونه مې راواخیستل د باندې روان شوم ډار او خوښي مې دواړه په زړه کې ول خوښ په دې ووم چې کېدی شي د هغې دیدن وکړم ډارېدم ځکه چې کومه غلتي رانه ونشي د هغې بلې ورځې په شان

د فاطمې دوئ کور ته ورسېدم دروازه مې وټکوله

په لومړي ځل څوک راونه وتل بیا مې دروازه وټکوله د څو شیبو وروسته غږ وشو څوک یئ؟

غږ دومره خوږ راباندې ولږېد چې خوږوالي یې رانه د زه یم کلمه هیره کړه

غږ مې وکړ زه یم یاسین

دروازه خلاصه شوه چې ومې کتل فاطمه وه د خبرو کولو پرته مې قابونه ورته وسپارل او روان شوم په لاره کې مې دا خبره ذهن ته راغله چې هغې ولې دروازه خلاصه کړه په داسې حال کې چا ما نوم هم ورته واخیست چې یاسین یم

فکر مې کولو چې کېدی شي په دې کې هم څه خبره وي خو زه خبر وروسته به معلومه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرمې ډوډۍ وروسته جومات تـه لاړم کلـه چې بېرتـه راوګرځېدم ګورم چې فاطمه په کوڅه کې راروانه ده لږ. وروسته زه د ترور کور ته نږدې شوم هغه هم تر ما لږ. لرې وه د کور دروازه مـې وټکولـه تـرور مـې غږ وکړ څوک يئ؟

-ياسين يم

-صبر درغلم

شاته مې وکتل فاطمه هم ولاړه وه او ددې پـه انتظـار وه چې زه نه ننوځم ترور مې دروازه خلاصه کړه کـور تـه ننوتم څو شيبې وروسته فاطمه هم راننوته تـرور مـې پـه لـوړ غږ. وويل څنګـه داسـې د مئينـانو غـونډې دواړه يـو ځای راغلئ

وشرمېدم ژر خپلې کوټې ته ننوتم ساعت تېر شو د تېرې ورځې په شان مې بېا د ورسۍ له يو کونج نه پـرده کش کړه او پټ ، پټ مې د فاطمې لور ته کتل پـه دې وخـت کې مې يو ځل د ترور سترګې راباندې ولږېدې موسکۍ شوه ژر مې پـرده کش کـړه او پـه توشـکه کېناستم ووتـم مازديګر مې د باندې تېـر کـړ د ماښـام چـې کلـه کـور تـه راغلم نو د ترور نه مې په بېلا بېلو بـهانو ځـان خلاصـوه د ماسختن ډوډۍ مو خوړله يودم مې ترور خبره وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړیه ! خبر یې ؟

-نه د څه شي نه؟

-یاسین مئین شوی

-ښه ځکه دا څو ورځې داسې غلی ، غلی ګرځي

خبره مې ورپرې کړه نه داسې کومه خبره نه ده په مور او پلار پسې خفه یم ځکه غلی یم

لاړم د خوب کوټې ته او د ترور د خبرو دلاسه راته بیا خوب نه راتله

څو ورځې تېرې شوې خو فاطمه مې ونه لیده غوښتل مې چې د ترور شک مې ورک کړم د غرمې ډوډۍ وروسته به د باندې وتم باندې ولاړ ووم فرهاد مې تر سترګو شو غږ مې پرې وکړ

راغی روغبړ وروسته یې راته وویل مشره سبا د نوي کال ورځ ده چېرته چکر ته نه ځو؟

- نه فرهاده د نوروز ورځ لمانځل حرام دي

- هاها ملا صاحب پوهېږم ټوکه مې وکړه

یو ساعت مې له فرهاد سره تېر کړ خدای پاماني مې ترې واخیسته کور ته لاړم کور ته په ننوتو مې ترور

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــبړ كـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړ
مئينـــــــــــــــــــــــــــــــــــــه چېرتـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه تللـــــــــــــــــــــــــــــــــــــى وې؟
د مئين كلمې په اورېدو خواشينى شوم له لږ ځنډ وروسته
مـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــې ځـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــواب وركـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړ
تـــــــــــــــــروري لـــــــــــــــــه ټولګيـــــــــــــــــوال ســـــــــــــــره ووم
- ښــه دا څــو ورځــې دې د يــو چــا ديــدن هيــر كــړى
هاهاهـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــا...
ترور سره مې بله خبره ونه كړه لاړم كوټې ته ننوتم او
پـه دې خواشـنى ووم چـې تـرور مـې ولـې راباندې خبره
شـــــــــوه هغـــــــــه بـــــــــه اوس ټـــــــــول خبـــــــــر كـــــــــړي
ماښام مې هم په هغه كوټه كې تېر كړ ماسختن مې ترور
راغلـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه
لــه راتلــو ســره ســم يــې پــه خندېــدلي لهجــه ووېــل
مئينــه ځانتــه ، ځانتــه مــه كېنــه ســوچونه بــه دربانــدې بــده
اغېـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــزه وكـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړي
خبـره مـې ورپـرې كـړه پـه حالـت كـې مـې لـږ بـدلون
راووســــــــــــــــــــــــــت ومــــــــــــــــــــــــــې وېــــــــــــــــــــــــــل
تروري دا تاسې څنګه خبري كوئ؟ ټوكې خو داسې نه
وي
- هاهاهـــا ټوكـــه نـــه كـــوم راځـــه ډوډۍ تيـــاره ده
- تــروري مــوږ بــه خــواړه مــې زړه تــه نــه كېــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هاها یاسینه ستا د حالت د بدلون لپاره مې داسې خبرې کــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــولې
ددې خبرې په اورېدو خوښ شوم او لاړم بلې خونې ته او تــرور مــې ډوډۍ راوړه لــه لمـونځ کولـو وروسـته د خوب ځـای کـې څملاستم خو د فـاطمې نـه لیدلو مـې لـه سترګو څخه لړ، لړ د خوب څپې لرې کولې او په دې لټه کـــــې ووم چــــې کلـــــه بــــه یــــې ویــــنم په ځان نه ووم ویده شوی ووم خو د لیدلو ارمـان مـې پـه خــــــــــــوب کــــــــــې پــــــــوره شــــــــــو
د روانــــــې ویــــالې ترڅنــــګ دواړه ناســــت یــــو بـو ځـل هغـه پـه لپـه کـې اوبـه راواخلـې او پـر مـا یـې راوشــــــــــــــیندې او یــــــــــــو ځـــــــــــل زه یو بل ته د مینې په خبرو بوخت وو لـه څـه وخت خبرو وروسـته مـې ورتـه ووېـل تـه مـې د وجـود سـاه یـې ویـې خنـــــــــــــــدل چوپـــــــــــــــه شـــــــــــــوه
ویـــــــــــــــې وېـــــــــــل تـــــــــــه مـــــــــــې غږ راباندې وشو او د " ته مې " کلمو وروسته مې څه وانورېدل چې فاطمې راته څه وېل ترور مې هغه خوب له منځه یووړ کوم خوب چې زما لپاره حقیقت وو لـه ځـان نـه مـې کمپلـه لـرې کـړه ولـې همداسـې پـه ځـای کـې کیناســـــتم چـــــې هغـــــې بـــــه راتـــــه څـــــه وېـــــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ته مې ، ته مې کلمه مې ښېا،ښېا په ذهن کې ګرځېدې
ولې نه پوهېدم چې دا جمله څنګه پوره کړم داسې يې
وېـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــل؟
تـــــه مـــــې هـــــم د وجـــــود ســـــاه يـــــې؟
تـــــه مـــــې د ژونـــــــد بقـــــا يـــــې ؟
تـــــــــه مـــــــــــــې ..........؟
ددې جملې د پوره کولو په فکر کې ووم ترور مې راغې.
کـړ پـاڅېږه لمـونځ قضـا کېـږي څـه سـوچونه وهـې؟
پاڅېدم اودس او لمونځ مې وکړ د لمانځه وروسته مې
هغه خوب ښېا راتازه کړ غلی د ترور ترڅنګ ناست ووم
ولې په خيال کې مې د فاطمې سره د وېالي ترڅنګ په
خبـــــــــــــــــــــرو بوخـــــــــــــــــت ووم
تـرور مـې يـو ځل ښېا لـه خيالي نړۍ څخـه راوويستم
ياســـينه تـــه هـــم پـــنځلس کلـــن شـــوې
- تـــروري زمـــا د پيدايښـــت نيټـــه مـــو ليکلـــې ؟
- نـه اوه کلن وې چې ښوونځی دې شروع کړ او درې
ورځـــې بعـــد دې نهـــم ټـــولګی پيلېـــږي
- هاهاهـــــا ښـــــه اټکلـــــي حســـــاب دی؟
- هـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــو
ورځ تېره شوه ښېا هم د فاطمې د ديدن تږی پاتې شوم د
سبا په انتظار ووم سبا هم همداسې وشول په دريمه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــم
د نوي کال په پنځمه ورځ له ترور سره ګډ ښوونځي ته روان شوم ښوونځي ته په ننوتو مې لـه ټولګيوالو سره روغبـــړ وكـــړ فرهـــاد وپوښـــتل دا دې تـــرور وه ؟
- هــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــو
ننوتو ټولګي تـه څـه ناڅـه ټولګيـوال مـو راغلـي ول څـه ناسوب ول ساعتونو خالي وو نو فرهاد هم دا ساعتونو په دې موضــــــــــــــوع ډک کــــــــــــــــــــړل
مشره چې په کورسونو کې مو ځانونه دا خل وی ښـه بـه وه چـې دا رياضـي او كيميـا او داسـې نـور مضـامين لـه اوسـنه د کـانكور ازمـوينې لپـاره زده کـړو ښــه بــه وي
- فرهاده زه خو مې لـه ترور سره رياضـي شروع كوم
هســـــې هــــم هغــــه د رياضــــي ښــــوونكې ده
- څـــــــووم ټــــــولګي تـــــــه درس ورکــــــوي
- يوولســـــــــــم او دولســـــــــــم ټـــــــولګي تـــــــه
- ښــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه
لـــه دې خبـــرو وروســـته يـــې ببـــا راپـــاده کـــړه مشـــره لـــه کـــوم پـــوهنځي ســـره مينـــه لـــري؟
- لا تراوســــــه مــــــې پريكـــــــړه نــــــه ده کـــــړې
- نــــه لـــه اوس نـــه هـــدف وټاكـــه بريـــالى كيـــږې
- نــــه كيــدى شـــي كـــانكور ازموينـــه ورنـــه کـــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هاهـــا نـــو ښېـــا ښـــوونځی تـــه ځلـــه راځـــې؟ ددې پوښتنې ځواب مې ورنه کړ تـرې ومـې پوښتل فرهــاده تــه څــه غــواړې پــه راتلــوونکې کــې شــې؟

- یاسینه زه غواړم ډاکټر شم او له طب سره ډېره مینه لــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــرم

- هاهاها افرین تـه ډاکټـر شـه زمـا بـه هم درملنه کوې

- هاها خدای دې تا نه ناروغه کوې مشره عجیبه خبرې کــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوې

په شپږو ساعتونو کې مو یوازې دوه ساعته ډک ول او درس مـــــــــــــــــــــــــــــــو ولوســـــــــــــــــــــــــــت رخصت شو او له ترور سره مې د کور په لور روان شوم کورته په رسېدو مې د ښوونځي جامې وویستې او ډوډۍ مې وخوړه څه ځنډ وروسته د کور دروازه وټکېده ترور مې راغږ کړ

ورشـــــــه یاســـــــینه! وګـــــــوره څـــــــوک دي لاړم دروازه مې له غږ کولو پرته خلاصه کړه او د دروازې په خلاصیدو مې هغه ارمان چې له څو ورځو ورته انتظار ووم پوره شو فاطمه وه زه له شرمه د باندې ووتم هغه کور ته ننوته زه هم بېرته کور ته دننه نه شوم فیسبوک مې خلاص کړ په فیسبوک کې مې یو غزل تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړګو شو چې مطلع يې داسې وه

«ستا په ليدو راباندې بل شان خوشحالي راغلله»
«حس ته مې ستا وجود نه بښکلې خوشبويي راغلله»

غزل مې کاپي کړ او په موبايل کې مې له ځان سره وساته ماسختن له ډوډۍ وروسته لاړم خپلې کوټې ته او موبايل کې مې هغه غزل راوسته او په لوړ غږ مې د ياد غزل په ترنم پيل وکړ

ستا په ليدو راباندې بل شان خوشحالي راغلله
حس ته مې ستا وجود نه بښکلې خوشبويي راغلله
ستا په ليدو ، ستا په ليدو......

په ترنم بوخت ووم يودم د کوټې ور خلاص شو د ور په خلاصېدو مې ترنم بس کړ ومې کتل ترور مې وه ويې خندل او ويې ويل ياسينه ولې دې ترنم بس کړ شروع کړه خوند يې راکړ هلته ژر کوه ځواب مې ورکړ ترورې په موبايل کې مې راډيو چالانه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هاهاها دروغجنه ترور دې په دې خبرو نشې غولولی هیڅ ځواب راسره نه وه سر مې ښکته نیولی ؤ او د ګوتو تقونه مې ویستل په موبایل کې مې زنګ چالان کړ په دروغو مې غوږ ته کړ خبرې مې شروع کړې سلام فرهاده ښه یې ؟ ښه د پښتو کتاب دې ښایې ؟ هو هغه له ماسره پاتې شوی ښه در ووتم موبایل مې جیب ته کړ ترور مې راته ووېل چېرته ځې په دې شپې کې ؟

- تروري د باندې مې ټولګیوال ولاړ دی او پښتو کتاب یې له ماسره پاتې

- خو سبا به یې ورکړې

- وېل یې چې نن شپې ته درس وایم

- ښه ژر راشې

له بکسې نه مې کتاب راوویست ترور مې راغږ کړ ته راوړه دا کتاب

کتاب مې ورکړ او ویې وېل دا خو د علوم دیني کتاب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وای تروري په عجله مې راواخیست ومې نه کوت

ژر مې د پښتو کتاب راوویست د باندې ووتم د دوکانونو خواته لاړم دوکانونه بند ول تقریباً نیم ساعت مې د باندې تېر کړ موبایل ته مې زنګ راغی ترور مې وه راته ویې ویل ځه شوې ژر راځه
- دا ده دروازې سره یم تروري
په کوټه کې مې څوک ونه موندل په فکر کې شوم که کتاب ځان سره وېسم ترور مې شکي کیږي کتاب مې د تیرو په منځ کې پټ کړ او کور ته ننوتم کور ته د ننوتو سره سم د خوب کوټې ته لاړم
په توشکه پرېوتم ګوشکۍ مې په غوږو کې کېښوې او د کرن خان هغه سندره چې وایي

زه یې پیدا کړم ارماني
ته یې ارمان پیدا کړې .........

چالانه کړه سندره مې خو،څو ځله واورېده په ځان نه ووم پوی ویده شوی ووم سهار چې راپاڅېدم له لمونځ کولو وروسته مې له بکسې نه سپینه پاڼه راواخیسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــــــانې کــــــــــې مـــــــــــې ولیکــــــــــل

" ته مې د وجود ساه یې بې له تا مې ژوند داسې دی لکه زه چې د خوښـۍ پـه نـوم څـه نـه پیـژنم تـا سره مینـه لـرم مینـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــې"

پاڼه مې په جیب کې کېښوده او ددې په تمـه ووم چـې ژر غرمه شي او یاد لیک مې مینې ته ورسوم ساعت تـه مـې وکتل د ښوونځي وخت تـه نیم ساعت پاتې وو پاڅېدم د ښوونځي جامې مې په تن کړې هنداري تـه ودرېدم ددې پر ځای چې خپل ویښتان اصلاح کړم لـه ځان سره پـه شـــعر وپلـــو بوخـــت شـــوم او دا بېتونـــه مـــې وپـــل

نـــــن درتـــــــه د زړه خبـــــــره کړمـــــــــه زه صـــبر تـــــه مغـــــروره راتـــــه څـــــه وایـــــې ؟

تـــــا کــــــه مـــــې د لیـــــک ځـــــواب راوانســــــتو بېـــــا بـــــه راپســـــې دعـــــا پـــــه خولــــه وایـــــې

...............

.................

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد بېتونه مې په خوله جاري وول یودم کوتې ته مې تـــرور راننوتـــه او پـــه غوصـــه یـــې وویـــل څو بجې دي ها؟

څـو ځلـه مـې غـږ وکـړ هـیڅ پـه خبـره نـه پـوهېږې
- تـــــروري پـــــام مـــــې نـــــه دی شـــــوی
- هاهاهـــا خفـــه نشـــې راځـــه مئینـــان همداســـې وي
- تروري دا تاسې وايئ هیڅ مو په مطلب نه پوهېږم
- یاسینه زه چې څو څه موده وروسته به پوی شې

د کور نه د ښوونځي لور ته روان شوو ترور مې څو ځلې خبرې راسره پیل کړې خو زه لکه ګونګ هلک ورسره روان ووم خبرې مې نه ورسره کولې له لږ ځند وروســـــــــــته یـــــــــــې وویـــــــــــل یاسینه! ترور دې دا خبرې ستا د فکر د بدلولو لپاره کـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوي حېران شوم چې ترور مې څه غواړي ؟ ولې بېا ، بېا راته د مئین کلمه کاروي؟ آیا د هغې شک نه دی ورک شـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوی؟ د لارې په اوږدوالي پوی نشوم او دې پوښتنو ته مې ځوابونـــــــــــــــــه پیـــــــــــــــدا کـــــــــــــــول ومې کتل ښوونځی راورسېد ترور مې د ښوونځي اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ننوته او زه مې له ټولګیوالو سره په فاپل کې ودرېدم له څو دقیقو وروسته د ښوونځي یو مشر ښوونکي غږ وکړ یو څوک راشئ د قرآنکریم تلاوت وکړئ یو هلک لاړ د قرآنکریم مبارک آیتونه یې تلاوت کړل وروسته یوه ډله د ملي سرود لپاره لاړه د سرود له ختمېدو وروسته ښوونکي غږ وکړ څوک غواړي چې شعر ووایـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي؟

په لومړي ځل مې ګوته پورته نه کړه په دویم ځل مې ګوته پورته کړه او د فاپل مخې ته مې ددې بېتونو په ویلـــــــــــــــــــــو پیــــــــــــــل وکــــــــــــــړ

نــــــن درتـــــــه د زړه خبــــــره کړمـــــــه زه
صـــــبر تـــــه مغـــــروره راتـــــه څـــــه وایـــــې ؟

تـــــا کـــــه مـــــې د لیـــــک ځـــــواب راوانســـــتو
بیـــــا بـــــه راپســـــې دعـــــا پـــــه خولـــــه وایـــــې

...............

...................

د شعر له لوستلو وروسته څه نا څه زده کوونکو چک

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چکې وکړې خو په ښوونکو کې چا تشويق نه کړم پوی شوم چې شعر مې د هېواد ،دين..... په اړه نـه وو ځکه يې تشويق نه کړم

په وار د هـر صـنف زده کوونکـو خپلـو صـنفونو تـه حرکـت وکـړ او ننوتـل ماتــه مــې تــرور راغــږ کــړ ياســـــــــــــينه دلتـــــــــــــه راشـــــــــــــه ورغلم تـرور مـې غوصـه ښـکارېده پوهېدم چـې د څـه پـه اړه يــــــــــــــې غوښـــــــــــــتې يــــــــــــــم راتـــــــــــــــه يـــــــــــــــې ووېـــــــــــــــل ياسينه دا ځای دداسې شعر ويلو نه دی دا شعرونه ببا پـه کور کې د هغې بلـې شپې پـه شان ترنم کوه پوی شوې نـاهيلۍ روان شـوم خپـل صـنف تـه ، صـنف تـه پـه ننوتـو فرهاده راغږ کړ

وه زما مئينه ياره افرين په دې شعر چې تا د فاېل مخې تـــــــــــــــــــــه ولوســـــــــــــــــــــت د فرهاد ملنډو مې تندی نور هم تـروش کـړ او پـه څوکـۍ کې داسې کيناستم لکه ددوئ ټولـو سره چې مې لومړی ورځ وي لـږ. وروسـته مـو ټـولګي تـه نګرانـه راننوتـه د حاضــــرۍ د اخيســــتلو وروســــته يــــې راغــــږ کــــړ ياسـينه د فاېـل مخـې تـه دداسـې شـعرونو وېـل ښـه نـه دي کوښښ کوه چې د هېواد،مور،...... پـه اړه شعر ووايـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــمه ده
د ښــوونکې نصــيحت تقريبــاً ډېــر دوام وکــړ زړه مــې
غوښتل چې بې لـه اجازې لـه صنف نـه ووځم د باندې
خـــــو فکـــــر تـــــه مـــــې دا خبـــــره راغلـــــه
ياسـينه وزغمـه پـه مينـه کـې ذلـت او دا هـر څـه شـته
.............
دې خبرې مې لږه غوصه را سړه کړه پنځـه ساعته تېر
شول پوائې شپږم ساعت مو پاتې وو شپږم ساعت مو د
علـوم دينـي مضـمون درلـوده ښـوونکی راننـوت لـه سلام
وروسته يې ووېل زده کوونکو هغه زده کوونکی ستاسو
ټولګيـوال دی چـې د فاېل مخـې تـه يـې شـعر ولوسـت؟؟؟
نږدې ټولګيوالو ته مې سر وخوځاوه چې ورته ونه وايئ
خــو يــودم د صــنف لــه اخــرې څــوکی نــه غــږ راغــی
هـــــو ښـــــوونکېه! هغـــــه ياســـــين وو
- ياســـــــــــين کـــــــــــوم يـــــــــــو دی؟
پورتـــــه شـــــوم او ومـــــې وېـــــل ښـــــوونکېه زه يـــــم
ښـــــوونکې هـــــم داســـــې ځـــــواب راکـــــړ
څه په وېاړ وايې چې زه ېم شعر به هغسې وي کوم چې
تـا ولوسـته؟ لـږ شـرم پـه کـار دی غـټ سـړی يـې .......
زما هم په فکر کې د قرآنکريم دا آيات ګرځېده راګرځېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

"اِنّ اللهَ مــــــــــــــــع الصّـــــــــــــــبرِين "

هيڅ مي نه وېل غلی ووم او خپله غوصه مي په ياد آيت سړوله څه ځنډ وروسته د رخصتۍ زنګ ووهل شو خوشحاله شوم له ترور سره مي کورته روان شوم په لاره کي ترور هم راته په نصيحت بوخته وه له لږ مزل وروسته کور ته ورسېدو د ښوونځي جامي مي وويستي ډوډۍ مي وخوړه لمونځ مي وکړ له لمانځه وروسته مي داســــــــــــــي دعـــــــــــــــا وکـــــــــــــړه

"خدايه هغه داسي راباندي مئينه کړي لکه زه چي پري مئين يم او ياالله نن راته د زمري زړه راکړه چي ياد ليـــــــــــــــــــــــــــــــــک ......"

پورته شوم او ليک مي له جيب نه راوويسته څو ،څو ځلي مي ولوسته

ليک مي لوسته په دي وخت کي د کور دروازه خلاصه شوه له ورسۍ مي د پردي لړه ځنډه کش کړه چي ومي کتل فاطمه وه په ليدلو مي ليک له لاسه ولوېد او زړه مي درزا شروع کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېناستم لږ،لږ مې ځان سم کړ تشناب ته ننوتم مخ او لاس مې ووينځل په تشناب کې مې لږ ځنډ وکړ کله چې راووتم ګورم چې ترور مې په کوټه کې ولاړه ده او په لاسو کې يې سپينه پاټه نيولې ده هنداري ته مې وکتل رنګ مې تک زېړ اوښتی وو ووتم له کوټې نه ترور مې راپسې راغږ کړ ياسينه مه خفه کېږه ترور به دې دا ارمان پوره کړي په کور کې تم نشوم ووتم د باندې مازديګر مې د باندې تېر کړ د لمر سترګه ورو ،ورو د غرونو ښکار کېدله زه هم په دې فکر کې ووم چې ماسختن ته به مې ترور ته څه ځواب وايم؟

توره تياره شوه د خلکو ګڼه ګونه هم کمه شوه د سپيو غپاء مې تر غوږو شوه ما هم ښه وبلله چې کور ته لاړ شم کور ته زړه نا زړه ننوتم خپلې د خوب کوټې ته لاړم په توشکه پرېوتم  ورروسته مې ترور راغله

له مخ نه يې رانه روجايي پورته کړه او ويې ويل څنګه ويده يې ياسينه؟ پاځېږه ډوډۍ وخوره

- تروري لږه تبه مې ده او خواږه مې زړه ته نه کېږي

- ته صبر زه درمل راوړم

ترور مې لاړه درمل يې راوړل درمل ددې په ځای چې خوله ته واچوم جېب ته مې واچول ترور مې راغږ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبـه پسـي وخښنـه اوبـه مـې وخښلـې او يـاد تمثيـل مـې پـه بربالۍ توګه ترسره کړ ترور مې لاړه له پخلنځي نـه يـې میوه راوړه او زما مخې ته يې کېښودله ويې ويل

ياسينه دا وخوره او ويـده شـه زه دې د شپې احـوال اخلم سـ______________________________مه ده ؟

- نه تروري د درملو خوړلو وروسته مې لړ،لړ تبه ختمه شـ______________________________وه

ترور مې لاړه او مـا ټولـه شپه پـه ويښـه تېره کړه سـهار مې سترګې داسې ښکارېدې لکـه چرس چې مـې وهلـې وي

څو،څو ځلې مې په لیـک کې د فاطمې لپاره څـه ولیکل خو د لیـک د ورکولو چل نـه راتلـه ځـان مې زړور بللو خو د هغې په مخکې دومره بې زړه ووم چې د هغـې پـه لیدو به رانه لاره ورکه شوه او لیـک به مې بېرته له ځـان سره کورته راوړ

کـال ووت خو لیـک مې هغې تـه ونشو رسولی د ژمـې شـپې او ورځـې هـم رابانـدې د کـال پـه شـان تېرېدلې د فاطمې دوئ کډه هم د يخنۍ لـه املـه ننګرهار تـه تللې وه ټولګی هم رخصت وو لـه مـا سره تـش د هغـې يادونـه وو ل چې هر چېرتـه بـه يې زه بدرګه کولم څو ورځـې تېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې توره تياره وه برښنا هم نه وه د کوټې د روښنايي لپاره مو ډيوه روښانه وه سترګې مې په ډيوې لړېدلې نيـــــــــــــــــــــــــولې
او بيا ، بيا به مې د مسلميار دغه بيت له ځان سره لوسته

«زه د ډيــــــوې لــه غمــه ژاړم دا زمــا لــه غمــه»
«هغــه پــه اور بانــدې ســوځيږي زه دا ســتا لــه غمــه»

مـا لـه ځـان سـره دا بيـت لوسـته او تـرور مـې راغبږ کـړ افرين ياسينه کوشش وکړه همداسې پـه اذکـارو دې ژبـه روږدې کــــــــــــــــــــــــــړې
د ترور ددې خبرې اورېدو وروسته خندا راغله خو ځان مې کنټرول کړ او هغه راباندې پوى نشوه زنـګ راغـى چې ومې کوت فرهاد وو
وېل مې که زما د حال د پوښتنې لپاره يې زنـګ کړى خو داسې نـه وه وېل يې چې سبا اطلاعـامې ورکـوي ښوونځي تـه وختـي راشـه ډوډۍ مـې وخـوړه لمونځ نـه وروسته د خوب ځاى کې پرېوتم غوښتل مې چې وختي ويده شم چې سهار وختي پاڅيږم خوب نه راتلـه او د فاطمې خيالاتو کې ډوب ووم څه ځنډ وروسته په ځان نه ووم پوى شوى او ويده شوى وم سهار مې له فرهاد سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکه ونیوله هغه راغی روغبړ مو سره وکړ ویې پوښتل
مشره ترور دې نن ښوونځي ته نه ځي ؟
- نه هغې پارچې پرون وېشلې دي په زده کوونکو
- ښه سمه ده
ښوونځي ته ورسېدو اطلاعنامې مو راواخیستې د شیرزم مقام نه دولسم مقام ته لویدلی ووم خو خواشینی نه ووم ځکه چې ما یاد کال ټول د فاطمې په خپالاتو کې تېر کړ کله چې کور ته ننوتم نو ترور مې راڅخه اطلاعنامه وغوښته ومې نه غوښتل چې له پاېلې مې ترور خبره شي ځواب مې ورکړ
تروري ښوونکي ته کار پیدا شو او ښوونځي ته رانغی
- هاها یاسینه خوشحاله شوم دروغو کې هم ښه مهارت لري
په خبرو کې یې راګیر کړم بلاخره مې له جیب څخه د پاېلې پاڼه راوویستله ترور ته مې ونیوه ترور مې راته وویل مئینه زه دې له پاېلې خبره یم د فاطمې له برکته د شیږم مقام نه دولسم مقام ته ولوېدې بدبخته هغې هم په تا زړه بایللی نو ته ولې د هغې په اړه دومره فکر کوې ؟
- تروري څوک ښایئ؟
- ستا معشوقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نــــه تـــــروريِ داســــــي كومــــه خبـــره نـــــه ده

د ژمـي شـپې ورځــې ،د ښـوونځي پـاېلي او د فـاطمې نـه ليـدلو مـې حالـت ډېـر خـراب كـړی وو ورځ بـه مـې پـه خوبونو او شپه به مې د نامتو شاعر تسنيم په كليـاتو تېره كړه موسم او هـوا لـږ ،لـږ بـدلون وكـړ د تسـنيم كليـات هـم څـو پـاڼې پـاتې وو پـه رسنيو كـې د نـوي كـال اوازې وې دوه جمعـې تېـرې شـوې د لسـم ټـولګي د پېـل ورځ مـو راورسـېده لـه تـرور سـره مـې د ښـوونځي پـه لـور روان شـوم پـه لاره كـې د تـرور نصـيحتونو زړه را تنـګ كـړ غوښـتل مـې چـې د تـرور څخـه لاره بېلـه كـړم بهانـه مـې ورتــــــــــــــــه وكــــــــــــــــړه
تروريِ زه د ښوونځي لپاره ځينې اړين توكي اخلم تاسـې درځــــــــــــــــــئ زه هــــــــــــــــم درځــــــــــــــم
- ســـــــمه ده خــــــو ناوختــــــــه نــــــه كــــــړي
- ښـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه
دوكـان تـه ننـوتم پـه دوكـان كـې مـې د ښـوونځي د توكـو پرځـاى د موبايـل كـارت واخيسـت كـارت مـې موبايـل تـه جمــــع كـــــړ او فرهـــــاد تـــــه مــــې زنــــګ وكــــړ هغه نه مې ويوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهـــــــــــاده چېرتـــــــــــــه يـــــــــــــې ؟
په ځواب کې يې لږ ځنډ وکړ وروسته يې ځواب راکړ
مشره زه خو په پارک کې ناست يم ښوونځي ته لاړم
مـدير وېـل چـې نـن درس نشـته کـور تـه لاړ شـئ
- ولــــې زمـــا تـــرور خـــو لاړه ښـــوونځي تـــه
- مشــره د هغــې بــه کــور کــې زړه تنــګ شــوی وي
- فرهــــــــاده تــــــــه ښـــــــــه يــــــــې ؟
- هـــو ښـــه يـــم راځـــه پـــارک تـــه راشـــه
موبايل مې جېب ته کړ د پارک لور ته روان شوم پارک
ته په ننوتو مې په فرهاد باندې نظر ولږېد ور روان شوم
چې کله ورنږدې شوم ګورم چې د فرهاد لـه خولې نـه د
سګرټو لوږې پورتـه کيږي او د کرن خان دغـه سندره
ورتــــــــــــــــــه چالانــــــــــــــــه ده

ځــــــو دانـــې لونـــګ راتـــه پـــه جـــام کـــې واکـــوه
ښکليه ته خپل رنګ راته په جام کې واچوه............

د سلام نه مخکې مې د فرهاد لـه لاس نـه سګرټ ګوزار
کړ او ترخنګ يې کېناستم حالت يې ښه نه معلومېده

تـــــــــــــرې ومــــــــــــــې پوښـــــــــــــتل
څـــــــــــــه شـــــــــــــوي فرهـــــــــــــاده ؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیڅ نه دي شوي هسې مې نن شوقي یو دانه راخیستی وو

- فرهاده نن خو به تش سګرټ ووهې که دا پرېنږدې نو بلـــه ورځ بـــه د چرســـو ډک ســـګرټ څکـــې

- ښـــه ســـمه ده مشـــره نـــور یـــې نـــه څکـــم

فرهاد مې له لاس نه راونیو او د کور لور ته روان شوو

د جمعـې مبارکـه ورځ وه دروازه وټکېـده لاړم دروازې لورته دروازه مې چې خلاصه کړه چې ومې کتل فرهاد وو په لاسو کې یې د کرکټ توب او بیټ ول لـه ما یې وغوښتل چې لوبې ته ورسره لاړ شم ورسره ومې منلـه کور ته ننوتم بوټان مې په پښو کړل د کرکټ مېدان تـه روان شوو فرهاد په لوبه کې زما خلاف ودرېده

لوبه پیل شوه لمړی بیټېنګ هغوئ وکړ فرهاد ښـه لوبـه وکړه په اته اورونو کې یې موږ ته پنځه اتیا منډې هدف راکړ

زموږ وار راورسېد پیل مو ښه وو خو کله چې فرهاد د بـال اچـونې لپـاره راغـی نـو زمـوږ د ټـیم ویکټـې یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیستې او څه نا څه د منډو پوره کول ستونزمن شول لوبه فرهاد دوئ وګټله دوېمه لوبه مو هم وکړه فرهاد غوښتل درېمه هم وکړي خو ما پرېښود ناوختـه ؤ بايد چې د لمانځـه لپاره مو تيارى نيولى وى کور ته روان شوو کله چې کور ته ننوتم په ساعت مې سترګې ولږېدې دولس او لس دقيقې وې ترور مې راغږ کړ ياسينه دلته راشه غږ له پخلنځي څخه راغى ورغلم هغې هم د خوړو ډک قابونـه راکړل او ويـې وېل ياسينه دا د فـاطمې دوئ کره وېسه اوس راغلل کېدى شي پخلى يې نه وي کړى د خوړو د قابونو ډک پطنوس مې راواخيست د فاطمې دوئ کور ته روان شوم په لاس کې نيولى پطنوس راتـه داسې ښکارېده لکه فاطمې ته چې د ګلو ګېډۍ وروړم خوښ ووم وېل مې چې کېدى شي و يې ګورم او هغه دروازې ته راووزي د هغوئ کور ته ورسېدم دروازه مې ؤټکوله څو شېبې وروسته غږ وشو څوي؟

غږ مې سم ونه پېژانده چې څوک به وي ځواب مې ورکړ زه يم ياسين دروازه خلاصه شوه سترګې مې په فاطمې ولږېدې لاسونو مې لړزا شروع کړه وېرېدم چې بيا د مخکې په شان د هغې مخکې رانه پطنوس ونه لوېږي ،ژر مې پطنوس ورکړ کله چې روان شوم نوغږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې راپسې وکړ صبر قابونه بېرته درسره وېسه ژر مې دا خبره ورته وکړه

چې وروسته به پسې راشم - نه بېا ځان مه پازابوه ژر يې راوړم تم شوم څه وخت وروسته راووته غږ يې وکړ ياسينه زموږ د کور قابونه په سامانونو کې ګډوډ شوي دي وروسته به يې وېسې او رښتيا دا پاڼه په پطنوس کې پرته وه دا واخله کيدی شي له تا نه هېره شوې وي .

د نور خبرو کولو جرءت راسره نه وو ژر مې پاڼه راواخيسته په جېب کې مې کېښوده په لاره روان ووم سوچ مې وکړ چې پطنوس کې خو ما هېڅ پاڼه ونه ليده دا پاڼه له کوم ځای نه شوه ؟ ژر مې جېب ته لاس کړ پاڼه مې راوويسته خلاصه مې کړه چې ومې کتل په پاڼه کې ليکل شوي " ياسينه ته خبر يې؟ ډېره درپسې وزورېدم خو،خو ځلې مې هڅه وکړه چې ليک درواستوم خو ومې نشوی کولی په ننګرهار کې مې ټول ژمی ستا له انځور سره په خبرو تېر کړ هغه مې له فيسبوک نه راخيستی وو ستا انځور ته مې ډېر وويل چې زه درسره ډېره مينه لرم خو خو هغه چوپه خوله وو ځواب يې نه راکوه ته مې د ژوند د بقا سبب يې زما په اړه په کور کې د واده خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رواني دي نو ځکه مې لیک درکړ ومې غوښتل چې خبر دې کړم یاسینه که واده مې د بل چا سره وشو نو بیا مې جنازې ته راشه والسلام مینه درسره لرم".

د لیک پېل راته خوښي راکړه خو د پای خبرو یې دومره وژړولم لکه یو ماشوم چې په خپلې مور پسې ژاړي یوه مباشت مې په سوچونو او فکرونو کې تېره کړه نه پوهېدم چې څه وکړم؟

سره غرمه وه د کوڅې په سر کې د فاطمې په انتظار ناست ووم لاس کې مې یو لیک نیولی ؤ چې په هغه لیک کې مې خپله شمېره لیکلې وه سترګې مې د فاطمې دوئ دروازې ته نیولې وې څه ځنډ وروسته هغه له کوره راووته

کوڅه کې مې شاه او مخ ته وکتل څوک مې تر سترګو نه شول زما لپاره د شمېرې ورکولو ښه زمینه وه پاڅېدم ور روان شوم کله چې هغه زما د ترور کور ته تاوه شوه نو غږ مې پسې وکړ چې ودرېږه

فاطمه ودرېدله حالت یې راته ښه نه معلومېده شمېره مې ورکړه او ترې ومې چې زنګ راته وکړي هغه کور ته ننوته او زه لاړم په پارک کې مې د تګ دې سندرې ته غوږ کېښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

" هغـــــــــه لاړه د بـــــــــل چـــــــا شـــــــوه اې زړګيــــــــــه اوس کړيــــــــــږه..........."

ورځ تېره شوه لمر هم ځان پناه کړ توره تیاره شوه په اسمان کې هم ستورو ځانونه راښکاره کړل زه هم کور ته ننوتم د ترور ترخنګ لکه ګونګ هلک کېناستم غلی ناست ووم يودم مې ترور راغږ کړ

ياسينه ډېر وخت کيږي حالت دې راته ښه نه ښکاري ولې څه شوي؟ اوس خو دې معشوقه هم له ننګرهار نـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه......

- نــه تــروري داســې کومــه خبــره نــه ده نــه يــم خفــه ډوډۍ مې وخوړه لاړم خپلې کوټې ته له ورسۍ نه مې پرده کش کړه او د فاطمې د زنګ په انتظار کېناستم په تمه ووم خو د هغې زنګ رانغی ساعت ته مې وکتل د شپې بوه بجه وه لړ،لړ راباندې د خوب اثرات راښکاره شول نه مې غوښتل چې ويده شم خو هغه متل دی چې وايـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي

خـــوب چـــې درشـــي بالښـــت نـــه غـــواړي......

ويده شوی ووم سهار چې کله له خوبه راپاځېدم موبايل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـې راواخيسـت چـې ومـې کتـل د يـوې شـمېرې نـه لـس زنګه راغلي دي ځان ته غوصه ووم چې ولې ويده شوی ووم

کـال تېـر شـو لـه فـاطمې سـره مـې اړيکـه ټينګـه نـه شـوه يوازې څو ځلـې مـې د تـرور ترڅنـګ وليـده خـو د خبـرو کولو موقع پـه لاس رانغلـه وزن مـې د ډېـرې انديښـنې لـه کبله کم شوی ؤ، د يووولسم ټولګي مو هم تقريباً يـوه نيمـه مياشـت تېـره شـوې وه د فرهـاد سـره بـه د فکـر د بـدلون لپاره هره غرمه پارک ته تلم خو د خپلو ستونزو پـه اړه مې ورته څه نه ويل

غرمه وه د فرهاد د زنګ په انتظار ناست ووم خو زنـګ رانغی ساعت ته مې وکتل نيم ساعت له هغه وخت څخه تېر وو پـه کـوم وخـت کـې چـې موږ پـارک تـه تللو ومـې ويل کېدی شي په موبايل کـې يـې روپـۍ يا چارج نـه وي ځکه زنګ نه کوي د کور نه ووتم د پارک لور تـه روان شوم پارک تـه ننـوتم پورتـه روان ووم د ښـي اړخ نـه مـې غوږو ته د کرن خان ددې سندرې غږ راغـی چـې وايـي

"څــو دانــې لونــګ راتــه پــه جــام کــې واچــوه بنـــګليه تــه خپـل رنـګ راتـه پـه جـام کـې واچـوه..."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښي اړخ تـه مـې وكتل چـې ګـورم فرهاد دى او د چرسو ډک سـګرټ يـې پـه لاسو كـې او لـه خـولې نـه يـې لـوږي راوځي ، څنګ ته يې ورغلم سګرټ مې تري واخيست مخکې له دې چې ويې غورځوم ورتـه ومـې وېل فرهاده څه شوله ستا هغه وعده ؟ څه شوه ستا هغه ملګرتيا؟

تـــا خـــو خپلـــه آينـــده جوړولـــه او ډاكتـــر كيـــدلې....... په غوصه ناک حالت يې ووېل

ياســـينه ســـګرټ راكـــړه نـــور زه پـــوهيږم كـــار مـــې - ښـه سمه ده الله پامـان نـور دې پـه خولـه د ياسين نامـه وانخلې.

سګرټ يې خولې ته كړ او د ملنډې په شكل يـې راپسـې راغـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــږ كـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړ "څـــوک چـــې عمـــل نـــه لـــري هســـې كـــدو دى"

ددې جملـې پـه اوريـدو مـې غوصـه نـوره هـم راوپارېدلـه هڅه مې شروع كړه چې د فرهاد نامـه لـه زړه نـه وباسم كـور تـه ورسېدم انګړ كـې لـه ترور سره مخ شوم ويـې پوښــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــتل ياسـينه څـه شـوي حالـت دې راتـه ښـه نـه ښـكاري؟ د ډېـري غوصـې لـه املـه مـې داسـې ځـواب وركـړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تروري پرې مې ږده هر وخت مې پوښتې زه ښه يم دومره پوښتنو ته اړتيا نشته
- هاهاها... ياسينه زه هم نه خفه کېږم ځکه چې مئينان تل همداسې غوصه وي

د شپې مې هم خواږه زړه ته نه کېدل لاړم د خوب په ځای کې ناست ووم او د فرهاد دا خبره مې په ذهن کې ګرځېده ،راګرځېده څوک چې .........

په همدې سوچونو کې ډوب ووم موبايل ته مې زنګ راغی له خيال نه يې راوباستلم شمېره راته ناپېژانده ښکارېده زنګ مې اوکې کړ سلام مې ډالی کړ د سلام د ځواب غږ نه راتله ، بودم د ژړا غږ راغی په ژړېدلي حالت يې وويل

ياسينه فاطمه يم سبا په ما پسې رېباران کور ته راځي نو ته هم سبا چېرته لاړ نشې سبا زما جنازه ده موبايل مې له لاس نه ولوېد او د غم چيغه مې له خولې نه ووته په ژړا سر شوم او اوښکو مې جامې داسې لمدې کړې لکه باران چې د پړي په سر هوارې جامې لمدې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې وروسته د کوټې ور خلاص شو ومې کتل ترور مې وه رامنده يې کړه زما په سر يې لاس راکيښود او ويې پوښتل څه شوي ياسينه؟

زه په ژړا سر ووم ترور ته مې ځواب ور نه کړ بيا يې وپوښتل څه شوي ياسينه ووايه؟

ژاړمه خاوند مې راويښېږي د هغه د ويښېدو نه مخکې راته ووايه زه درسره مرسته کولی شم

بيا يې پوښتنه وکړه ما بيا ځواب ور نه کړ په څلورم ځل يې په مخ څپېړه راکړه ويې ويل ووايه،ووايه څه شوي ؟

ما پوره ځواب ور نه کړی شو يوازې ومې ويل تروري فاطمه

- څه شوي په فاطمې؟ ژړا بس کړه هر څه راته پاک،پاک ووايه هلته

له سترګو نه مې اوښکې وچې کړې او په بنده ، بنده لهجه مې ورته وويل

تروري په فا،فا، فاطمې پسې سبا رېباران راځي او فاطمې راته زنګ کړی وو هغې ويل چې سبا مې جنازې ته راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــــــروري خپــــــر دی يـــــو کـــــــار وکـــــــړئ
- ياسينه دا کـار ناشونی دی تـه کوښښ وکړه فاطمـه لـه زړه نـه وباسـې د هغې پـلار د هغې پـه مقابل کې ولـور اخلـي او د هغوئ ولـور هم پنځـه ، شپږ لکـه افغانی دی زمـا معـاش هـم اوو زره روپـۍ دی او د خاونـد مـې هـم همـــدومره نـــو مـــوږ هـــم دا روپـــۍ نشـــو ورکـــولی
- نـه تـروريې زړه لـه زړه نـه ووځـي دا پيسـې زه پيدا کـوم ايـران تـه ځـم د کـار لپـاره خو تاسـې بـه حتمـاً سبا د هغـوئ کـور تـــه ددې موضـــوع لپـــاره ورځـــئ ســـمه ده؟
- ښه سمه ده ياسينه تـه اوس آرام وکړه سبا موږ ورځـو حتمــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــاً

ترور مې لاړه له پخلنځي نه يې لږه مېوه راوړله او راته ويـــــې وېـــــل ياســـــينه دا وخـــــوره او ويـــــده شـــــه
- ښـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه ســـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــمه ده
هغه لاړه او زه پـه ځـای کـې همداسـې ويښ ناسـت ووم د شپې شاوخوا دوه بجې وې پورتـه شوم لـه المـاری نـه مې بوه سپينه پاڼـه او قلم راواخيست ومـې غوښتل د زړه لـه درد څخه بو غزل جوړ کړم قلم مې ګوتو کې ونيو او پـه ســـپينه پاڼـــه مـــې د غـــزل مطلـــع داســـې وليکلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

"فـــــرهاد خـــو لاړو پـــه نشـــو ســـر شـــو"
"او یاســـــین لاړ پـــه شـــوګیرو ســـر شـــو"

ددې ببېت له ليکلو وروسته مې قلم کېښود او د ولور لپاره د پيسو پيدا کولو په فکر کې شوم چې دومره روپۍ به لـه کومـه ځايـه پيـدا کـوم؟ د تـرور دوئ مـې هـم اقتصـادي وضعه ښه نه ده

د ولور کلمه مې په ذهن کې ښـکته ،پورتـه کېدلـه بېرتـه مې قلم راواخيست او په پاڼه کې مې د هغه بېت وروسته داســــــــــــــــــــــــــــې وليکـــــــــــــــــــــــــــل

" د فـــاطمې پـــلار خـــو دې خـــدای مـــړ کـــړي "
" ځکـــــــه چـــې دی پـــه ولـــورو ســـر شـــو "

په سوچونو کې ډوب ووم يودم د چرګ بـانګي لـه خېـالي نړۍ څخه راوباستلم څه ځنډ وروسته په جومـاتونو کـې د سهار لمانځه اذانونه وشول پاڅېدم اودس مې وکړ او هوډ مې وکړ چې جومات تـه لاړ شم خو پـاتې شـوم ومـې نـه غوښتل چې ترور مې راباندې خبره شي چې ياسين تولـه شپه په ويښه تېره کړې ده لمونځ مې په کور کې وکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمانځـــه نـــه وروســـته مـــې داســـې دعـــا وکـــړه

ربــــــه زمـــــا دغـــــه ارمـــــان...............

لږ وخت وروسته د لمر سترګه راښکاره شوه ترور مې ماته چای تیار کړ او هغوئ دواړه د فاطمې دوئ کره لاړل

څه کم یوولس بجې وې چې بېرته کور ته راغلل د راننوتو سره سم مې ترور ته ووېل

تروريې زما کوټې ته راشه لږ کار درسره لرم هغه راغله پوښتنه مې ترې وکړه ترورې د فاطمې پلار څه ويـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــل ؟

- یاسینه زویه د فاطمې پلار دې الله خوشحال کړي خبره یـــــــــــــــــــــــــــــــــــې ومنلـــــــــــــــــــــــــه

خوښ شوم څو شیبې مې د پوښتنو لړۍ وځنډوله بیا مې پوښــــــــــــــتنه تــــــــــــــريې وکــــــــــــــــړه

تــــرورې هغـــه څـــه ویـــل ولـــور نـــه غـــواړي ؟

هغه چوپه خوله ولاړه وه بیا مې ورته ووېل ترورې زما پوښــــــــــــــتنه مـــــــــــــــو وانورېــــــــــــــده ؟

ځواب یې راکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاســــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــینه
د فاطمې پلار وېل چې تاسې باېد لـه کوژدې نـه مخکې ماته نیمې پیسې راکړئ وېل یې چې تاسې غوندې خلـک مــــورږ ســـــــره دوســـــــتي نشـــــــي کـــــولای

ددې خبرې په اورېدو مې غوصه راوپارېدله خو غوصـه مــې بــې ځاېــه وه زه مجبــور ووم چــې د فــاطمې ژونـد وژغورم

څـو ورځـې مـې پـه خواشینۍ او خفګان کـې تېرې کـړې اېــران تــه د تللــو هــوډ مــې وکــړ د غرمــې شــاوخوا درې بجې وې چـې لـه قاچاق وړونکي سره مـې خبـرې وکړې هغه راته ووېل درې ورځې وروسته موږ بوه ډلـه لیږو که غواړې راځه چې له دوئ سره دې ولیږم

ما هم ورسره ومنله لاړم کور ته له ترور سره مـې خبـره شریکه کـړه تـرور مـې بودم پـه ژړا  شوه خو بلـه د حل لاره نـه وه پـه سبا مـې تـرور لاړه او خپلـه د سرو زرو ګوتمۍ یې وپلورله په ماسختن کې مې د فاطمې لپاره پـه لیـــــــــــــــک کـــــــــــــــــې ولیکـــــــــــــــــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

" میني ته مه خفه کېږه زه بېرته رادرومم انشاءالله چې خوشحاله ژوند به ولرو زه به مې له ترور نه هر وخت ســـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــتا........."

شپه تېره شوه سهار له چای څښلو وروسته ښوونځي ته لاړم له ټولګیوالو سره د مخه ښې لپاره خو فرهاد مې تر سترګو نه شو له یوه ټولګیوال څخه مې وپوښتل فرهـــــــــــــــــــاد چېرتــــــــــــــــــــه دی؟

ځواب یې راکړ یاسینه فرهاد نه چرسي یاسینه د هغه پوښتنه له ما نه مه کوه سمه ده؟

-سمه ده ښنه ....

له ټولګیوالو سره مې مخه ښه وکړه هغوئ په ما پسې او ما په هغوئ پسې ژړل له ټولګي نه چې راووتم یو ځل د هدیرې خواته لاړم او د پلار او مور د قبرونو ترخنګ کېناستم او ښه مې وژړل کور ته مې د مور او پلار د قبرونو نه حرکت نه شو کولی توره تیاره شوه او وېرې راسره مرسته وکړه چې کور ته لاړ شم

کور ته ننوتم خپلې کوټې ته لاړم د سفر توکي مې په بکسه کې واچول په پانه کې مې د ترور د موبایل شمېره ولیکله هغه مې هم کېښوده لاړم د ترور ترخنګ کېناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواشـيني ښـكارېده لـه صـندق نـه يـې لـس زره روپـۍ راواخيستې او ماته يې راكړې د ډوډۍ خوړولو وروسته ويده شوم سهار وختي پاڅېدم لمونځ مې وكړ د سفر دعا مـې وكـړه چـاى مـې وڅكـه او هغـه ليـک مـې تـرور تـه وركړ چې فاطمې ته يې ورسوي بكسه مـې پـه شـاه كړه او د دروازې لور ته روان شوم تـرور او د تـرور خاونـد مې هم راسره روان شول د ترور په لاس كې مې د اوبـو ډک جام ښكارېده د ترور خاوند سره مې مخـه ښـه وكـړه تـــرور مـــې پـــه تنـــدي ښـــكل كـــړم او د باندې روان شوم د حركت سره سم مـې د تـرور لـه خولې نـه داسـې د وېر چيغـه ووتـه چـې ماتـه يـې هم ژړا راوسته اوبه يې راپسې وشيندلې او لـه دروازې نـه يـې سر راوويست زه يې د كوڅې تر سر پورې تعقيب كړم له يو ساعت سفر وروسته د قاچاق وړونكي موټر خواتـه ورسېدم موټر ته پورته شوم څه ځنډ وروسته يې حركت وكړ شپه مو نيمروز ته ورسوله وروسته لـه درې ورځـو د تهران ښار تـه ورسېدم هلتـه د كـار پـه لټـه كـې شـوم پـه يوې فابريكې كې مې كـار وموند د فابريكې خاوند راتـه ښـه سړى ښـكارېده خـو ډېرى كـاركوونكي يـې پـه نشـو روږدي ول مجبـوري دې تـه نـه پرېښـودلم چـې پـه كـار پسې وګرځم كار مې پيل كړ څو ورځـې وروسته مـې لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترور سره اړیکه ونیوله هغه زما زه د هغې د غږ په اوریدو خوشحاله شوم د فاطمې پوښتنه مې ترې وکړه ځواب یې راکړ چې ښه ده په ښنګ کې مې ناسته ده راغلـــــــــې ده د درس لپـــــــاره غــــــــږ دې اوري

د کار ډېروالـي دې تـه نـه پرېښـودلم چـې ډېـرې خبـرې وکړم له ترور سره مې مخه ښه وکړه د فابریکې په کار بوخت شوم میاشتې تېرې شوې خوښ ووم څه نا څه روپۍ مې لاسته راغلې راتلوونکی ژوند راته له خوښـۍ ډک ښکارېده په ایران کې مې دوه کاله پوره شول له ترور سره مې اړیکه ونیوله په غږ کې یې بدلون ښکارېده ترې ومې پوښتل تروري ناروغه یې که ښنګه دې غـــــــــــــــــږ بــــــــــــــــــدل دی؟
ځــــــــــــــواب یـــــــــــــې راکــــــــــــــړ
نه یاسینه بېګاه مې لږ په ستوني درد وو اوس ښه یم
- ښـــــــــــــه فاطمـــــــــــــه ښنګـــــــــــه ده ؟
- ښـــــــــــــه ده هغـــــــــــــــه هـــــــــــــــم
- ښه ورته ووایه چې اندیښنه مه کوه زه هم یوه میاشت وروســـــــــــــــــــــته درځــــــــــــــــــــــم
- ســــــمه ده یاســـــینه الله دې پـــــه خېـــــر راولـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړيکه مې له خداى پامانۍ وروسته پرې کړه لاړم فابريکې ته د کار وروستۍ ورځې مې هم هلته تېرې کړې پنځه ويشت ورځې تېرې شوې د فابريکې له مالک سره مې حساب خلاص کړ او بازار ته لاړم

هلته مې د فاطمې لپاره يو لاسي سور ساعت واخيست چې د ستنو په ځاى کې يې په انګليسي ژبه ليکل شوي وو "تاسره مينه لرم " ترور ته مې پوه د سرو زرو ګوتمۍ او د ترور خاوند ته مې په تور رنګ کې ښکلي بوټان وپېرل

درې ورې ورځې مې د تهران په پارکونو کې په ډار،ډار چکر ووهلو وېرېدم چې پوليس مې ونه نيسي په سبا ورځ هوايي ډګر ته لاړم څه ځنډ وروسته د حامد کرزي هوايي ډګر کې ښکته شوم موټر مې دربس کړ په موټر کې هم دا سندره چالانه وه

" کور يې زمونږ وطنه مور يې زمونږ......"

سندره ته مې په خورا مينه غوږ اېښى وو نيم ساعت وروسته د ترور د کور کوڅې ته ورسېدم په کوڅه کې د فاطمې دوئ د کور مخې ته د خلکو ګڼه ګونه زياته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومـې غوښتل پوښتنه وکړم چې دلتـه څـه خبره ده خو د وجـود سـتړيا مـې پرېښـودم چـې لـه چـا نـه پـه دې اړه پوښتنه وکړم

له موټر نه ښکته شوم دروازه مې وټکوله د ترور خاوند مـې راووت يوبـل تـه مـو غـاړې ورکـړه کـور تـه ننوتـو کېناستم اوبه مې وڅکلې څو شېبې وروسته مـې د تـرور لـه خاوند نـه وپوښـتل تـرور مـې چېرتـه ده ؟ راته ويې وېل ياسينه هغه تللې د کوڅې يو سپين ږيرى مـړ وو هلتـه تللـې

- تـه نـه يـې ورغلـى؟

- زه اوس ورتلـم هغـه تـه راغلـې

- ښـه سـمه ده

لاړم خپلـې مخکينـۍ کـوټې تـه هـر څـه همغسـې مـنظم ايښـودل شـوي وو د المـارۍ نـه مـې د خاطـراتو کتابچـه راواخيسته ټولې ليکنې مې ولوستلې هره ليکنه لـه درد او غم نه ډکه وه کله چې ليکنې ختمې شوې نـو پـه وريـسې پانـه کـې مـې وليکـل

" د غـم نـه وروسـته حتمـاً خوشـحالي شـته "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لیکنه مې خپل ژوند ته په کتو ولیکله په خپلې کوټې کې مې دوه ساعته تېر کړل کتابچه مې الماری کې کېښوده تشناب ته ننوتم مخ او لاس مې ووینځل په هنداره کې مې ویښتان سمول په دې وخت کې د کور دروازه خلاصه شوه ومې کتل ترور مې وه ژر مې ځان د کټ لاندې پټ کړ ومې غوښتل لږه ټوکه ورسره وکړم ترور مې کوټې ته راننوته وروستې یې غږ وکړ خاونده دلته خو یاسین نشته د ترور د مېره غږ مې تر غوږو شو چې زما ترور ته یې وېل نه پوهېږم لږ مخکې خو همدلته وو د پیشو غږ مې له خولې نه وباسته یودم مې ترور راغږ کړ پشې ،پشې له ځان سره وغږېده

دا څه قسم پیشو یې چې نه راووځې د کټ له ښخ نه یې پوښ کش کړ او زه یې ولیدم او په موسکي حالت یې ووېل

راووځه لېونیه!

اوس به مې په جارو وهلې وې د کټ له بیښ نه راووتم ترور مې په ټنډه ښکل کړم او لاړه چای یې راوړ په کیسو مو پیل وکړ ما مې د ترور پوښتنې ځوابولې هغې زما له یو بل نه مو ډېرې پوښتنې وکړې پوهېدم چې نور پوښتنه کول ښه نه دي خو ما ورته ووېل تروروې سبا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د فاطمې له پلار سره زما د کوژدې په اړه غږېږئ کنـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه؟

- نه یاسینه سبا نه کیږي یو څو ورځې وروسته به ورشو تـــــــــه بـــــــــه هـــــــــم لـــــــــږ آرام وکـــــــــړي

- هاهـــــــــا ســـــــــمه ده ټوکـــــــــه مـــــــــې وکـــــــــړه

جمعه تېره شوه فاطمه مې تر سترګو نه شوه په بېګاه کې مې ترور ته بیا د کوژدې په اړه خبره وربیاده کړه بیا یـې وویـل یاسینه سبا مو پـه ښوونځي کـې یـوه غونـډه ده نـو ســـــبا هـــــم نـــــه کیـــــږي بلـــــه ورځ بـــــه ګـــــورو

حېران ووم چې څه خبره ده مخکې مې چې تـرور وخـت درلـود پیسـې مـې نـه درلـودلې او اوس چـې پیسـې راسـره شته له دوئ سره وخت نشته

په موبایل کې په ګېم بوخت ووم شاوخوا درې نیمې بجـې وې چـې د کـور دروازه وټـکېـده تـرور مـې راتـه وویـل ورشه یاسینه وګوره چې څوک دي

لاړم دروازه مـې خلاصـه کـړه د بانـدې د فـاطمې ورور ولاړ وو په لاس کې یې

یوه خالته نیولې وه ورنږدې شوم روغبړ مو سره وکړ بنه راغلاست یې راته وویل خالتې ته یې لاس کړ او یو کارت یې ترې راواخیست

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارت راته د ختم ښکارېده پوښتنه مې ښه ونه بلله چې وپوښتم د چا ختم دی؟

د چای څښلو غوښتنه مې ترې وکړه ویې وېل

نه مننه زه باید لاړ شم او دا کارتونه وویشم ننوتم کور ته په انګړ کې مې کارت خلاص کړ چې ومې کتل

پـــــه کـــــارت کـــــې لیکـــــل شـــــوي

(مرحومــــــــه د حــــــــاجي ..................)

کارت مې لـه لاس نـه ولوېد او زه هم وریـسې پـه ځمکه ولوېدم په ځان نه ووم پوی کله چې مې سترګې خلاصې کړې او حالت مې ښه شو ګورم چې پـه روغتـون کـې بـم لاړو کور ته شپه تېره شوه سهار وختـي مـې وختـي مـې خپلـې راوړې پیسـې راواخیستې او لـه کـور نـه ووتـم لـه دوکان نه مې یو قوتی سـګرټ راواخیستل او پـارک کـې مې وڅکل څو میاشتې وروسته د فـاطمې د جدایـۍ دلاسـه په پوډرو روږدی شوم تقریباً اوو نیم کالـه مـې د پوډرو نشه وکړه وروسته مې ترور د درملنې لپاره یو روغتون ته بوتوم یو څـو میاشتې پـه روغتـون کـې بستر ووم کلـه چـې مـې درملنـه خلاصـه شوه او پـه حـال راغلم نـو زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواته یو ډاکټر راغی چې عمر یې برابر غوندې وو په اوږې یې لاس راکېښود او ویې وېل مشره ! دادی ته اوس روغ رمټ شوې او له دې وروسته به تاته خلک پوډري نه بلکې یاسین وایي.

د هغه ددې خبرو په اورېدلو شکي شوم چې هغه زما نوم ځنګه زده کړ؟ او د مشر کلمه یې ځنګه راته وکاروله؟ دا کلمه خو ماته یوازې فرهاد کاروله ترې ومې پوښتل ډاکټر صاحب کولی شې زما دوه پوښتنې ځواب کړې ؟

- کومې پوښتنې ؟

- لومړی دا چې زما نوم دې له کومه زده کړ؟ او بله دا چې ولې مو راته د مشر کلمه وکاروله؟

- هاهاها... مشره ته لومړی پاځه غاړی راکړه بیا دې پوښتنې ځوابوم

بې له کوم ځنډ نه پاڅېدم او په غېږه کې یې کلک ونیولم هغه بودم په ژړا شروع وکړه په ژړېدلې حالت یې وویل

یاسینه زه فرهاد یم ستا هغه تولګیوال خبرې یې ژړا بندې کړې

ددې خبرې په اورېدو مې د خوشحالۍ حس وکړ او یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل بیا ورغاړې وتم څو شیبې مو یو بل همداسې په غېږه کلک ........

د څه خبرو وروسته مې ورته ووېل

فرهاده زه باېد اوس لاړ شم له ترور دوئ سره مې بیا حتمـــــــاً ســــــــــره ګـــــــــورو انشـــــــــاءالله له لاس نه یې کلک ونیولم او ویې وېل نه یاسینه نن شپه به زما مېلمه کېږې نن رانه هیچ چېرته نشې تللی ماښام شو فرهاد سره لاړم د هغوئ کورته د ماسختن ډوډی مو وخوړه وروسته یې چای راوړ د چای نه یې دوه پیالې ډکې کړې او زما ترخنګ کیناست ویې وېل ښه،ښه یاسینه اوس دا راته ووایه چې په پوډرو څنګه روږدی شــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوی وې ؟ کیسه مې په لنډو،لنډو، کې ورته وکړه د کیسې د ختمیدو نه وروسته لاړ تازه چای یې راوړ ټوکې یې شروع کړې ژر مې د ټوکو لړی ور ختمه کړه او ورته ومې وېـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــل

فرهاده اوس ته راته ووایه چې ته څنګه ډاکټر شوې؟

- هاهـــا... د خپلـــو خبـــرو غـــچ اخلـــې کـــه څنګـــه ؟

- نـــه فرهـــاده غـــواړم ســـتا د بریـــا پـــه راز پـــوی شـــم فرهاد خبره یو خوا او بل خوا وړله بیا مې پوښتنه ترېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه بېا يې ځواب رانه کړ بېا مې ترې وپوښتل ويې
وېل
ياسينه زه مې د مېرمنې له کبله ډاکټر شوم
- هغه څنګه ؟
- کيسه اوږده ده خو په لنډو کې به يې درته ووايم
- سمه ده

- ياسينه داسې چل وو چې زه په يوې جينۍ باندې مئين
شوم هغه وخت پرې مئين شوم په کوم وخت کې چې مې
تا سره شخړه کړې وه ، په پانه کې مې ورته څه خبرې
وليکلې خو کله مې چې ليک ورکړ ځيرې يې کړ او ويې
وېل زه له هغه چا سره مينه نه کوم چې نشه يې توکي
استعمالوي وروسته مې نشه پرېښودله وروسته له خبرو
اترو مې ترې د کوژدې کولو غوښتنه وکړه ويې وېل
چې کله دې پوهنتون شروع کړ نو بېا به کوژده کوو
لاړم په يو خصوصي پوهنتون کې مې د طب پوهنځی
شروع کړ د کوژدې لپاره مې مور او پلار ورولېږل
کوژدې نه مخکې يې يو بل شرط هم په موږ کېښود چې
واده به له دندې پېدا کولو وروسته کوم شرط مو ورسره
ومنلو دا چې کله مې دنده پيدا کړه نو واده مې وکړ نو
ياسينه نن مې چې ژوند له خوشحاليو نه ډک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مې د هغې مينې برکت دی کومه مينه چې مې اوس مېرمنـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه

ده

نـو ملګرېـه! دادی اوس زمـا ژونـد وګـوره او د فرهـاد ، هغه ته خلک د ډاکټر او ماته خلـک د پوډري نامـه اخلـي

- ياسينه! ته اوس هم وړتيا لرې کوښښ وکړه تېر يادونه دې هېر کړې

بېرتــــه لــــه ســـره نـــه ژونـــد پيــــل کــــړه•

(c) ketabton.com: The Digital Library

# « پای »

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**